دجهاد پلوشه

دافغانستان د اسلامی جمعیت د جنوب غربی ولایاتو میاشتنی خپرونه

(٦-٧)

بسم الله الرحمن الرحيم

الله لا إله إلا هو الحي القيوم لا تأخذه سنة ولا نوم له ما

في السموات وما في الأرض من ذا الذي يشفع عنده إلا بإذنه

يعلم ما بين أيديهم وما خلفهم ولا يحيطون بشيء من علمه إلا بما شاء وسع

كرسيه السموات والأرض ولا يؤوده حفظهما

وهو العلي العظيم

PROPERTY OF
ACKU
5729

بسم الله الرحمن الرحیم

د جنوب لویدیځو ولایاتو د مجاهدینو میاشتنۍ خپرونه

د جهاد پلوشه

لومړی کال شپږمه او اوومه گڼه سنبله او میزان ۱۳۶۶

د جهاد پلوشه!

د امتیاز خاوند
افغانستان د اسلامي
جمعیت د جنوب غربي ولایاتو
قرارگاه شورا
مسئول مدیر
عصمت قانع
پستي ادرس
پیښور پاکستان
پست بکس نمبر ۳۴۵

فهرست

شمیره	سرلیک	لیکوال	مخ
۱	سرمقاله	اداره	۳
۲	نهضت او	〃	۸
۳	د اوکراینې میندو...	محمد طارق بریالی	۱۲
۴	په اسلامي نړۍ کې.	انجنیر صفدر خروټی (زرمه)	۱۷
۵	توای رودابه امشب....	داکتر سید مخدوم (رهین)	۴۳
۶	پر جهادي لنډیو خوخبرې	موسی محمد	۶۵
۷	د رښتینو ډرونو یوه کیسه	حیدر علی	۷۴
۸	که په میوند کې شهید نه شوې	ابو امان	۸۰
۹	کندهار د اور په لمبو کې	قانع	۸۴
۱۰	شعر وادب د انقلاب....		۸۸
	نامه های وارده		۹۴

سرمقاله :

نهضت او سازماني ارتياوې

زموږ ځوان او خوځنده اسلامي نهضت د خپل ځانګړي تاريخي موقعيت له مخې د وخت او زمان په يوه داسې مرحله کې د ازمايښتونو له سترو او ستړو ګواښونو سره لاس او ګريوان شو.

چې شايد د نړۍ په معاصرو نهضتو او مکتبي انقلابي غورځنګونو کې هيڅ يو نهضت او تحريک له داسې توپاني کړکيچونو او غوڅو ګواښونو سره نه وي لاس او ګريوان شوی.

د افغانستان اسلامي نهضت د دغه هيواد د مومن اُمت د خوځښت او بيدارتوب له ارمان سره يو ځای په داسې حال کې د تاريخ پر هنداره را ښکاره شو چې د افغانانو د ځانګړي عقيدتي او قومي موجوديت په خلاف له هرې خوا د دښمن د دسيسو او توطيو سره په خلاصه وه. او د افغان مومن ولس د اقتصاد، فرهنګ او کلتور تر ستنو لاندې د تخريب او انهدام لپاره د کفر او استعمار په لاس چاودونکي مواد له پخوا څخه ځای په ځای شوي وو.

استعمار او کفر په بيلا بيلو څېرو کې زموږ د مومن اُمت په خلاف يوه ناروا جګړه پر مخ بيوله- او په دغه جګړه کې يې د وخت د فاولو حکمرانانو په تائيد او ملاتړ سره خپل ناروا اوکړې هدفونه پر مخ بيوول.

د افغاني ټولنې پر ټولو مقدراتو باندې د يوه ساړه او بېخونده - سقوط تورة تیاره غوړيدلې وه.

د سقوط، رکود او توري ترورنې يه يوه څوروونكي فضا كې زموږ اسلامي تحريک د هيواد د ځوان نسل د قربانيو له سره اُفق څخه سر راپورته كړ!

او بالاخره داسي وخت را ورسيد چې كفر او استعمار د دغه مومن او پتمن نهضت د ټكيدو او د هغه د لمبې د غوړيدو د مخنيوي له ناولي هدف سره زموږ د هيواد د سياسي لاربښوونې تخت ته خپل ببي واكه او بې ارادې مريان وخيژول. او نهضت د مومنو افغانانو د دين، فرهنگ او وطن د پيوازنې ساتونكي په توگه يو ستر جهادي بهير ته خوځښت وركړ.

نور نو د دغه ځپاند بهير د بري او بريالي اُميد يو مبهم اُميد نه و، بلكه اسلامي انقلاب د افغانستان د مومن اولس د سرنوشت ټاكلو په محتوم قسمت تبديل شوی ؤ او انشاءالله دی په همداسې ټاكونكي او غوڅه مرحله کې ور چې د سرلې او اجتماعي رفاه نړيوال درغجن ملحد قوت زموږ پر خاوره د خپلو جلادو او ويني بهونكو وسله والو ځواکونو بهير راوشاړه او بيا هم د دغه يواځني إسلامي نهضت تر لاربښوونې لاندې افغان مومن اولس د تاريخ ويرنازک چلينج په وړاندې خپل موجوديت ثابت كړ او د قيام جهاد او خوځښت په لاره كې يې حماسې ونيولې.

او اوس ددې وخت را رسيدلی دی، چې بايد نهضت او د هغه قيادت د مومنو افغانانو د سلهاوو زرو ككريو د قربانيو ثمره شهيد روزونكي ملت ته وړاندې كړي.

تاریخ ثابته کړې ده چې اکثره نهضتونه او انقلابي تحریکونه د خپل پخوالي په مرحله کې له ویرونکو ننګونو او ګواښونو سره لاس او ګریوان کیږي او په داسې مرحلو کې د نهضتونو رسالت او مسؤلیت نوره هم دروندوالی پیدا کوي.

د نړیوال معاصر اسلامي تحریک لوی لارښود حضرت مولانا ابوالاعلی مودودي(رح) وایي:

دومره مشکله نه ده چې خلک او ولسونه د یوه ارمان او هدف په نامه د خوښېنت په بهیر کې سره راغونډ کړو.

بلکه مشکله مرحله دا ده چې خلکو ته د ورکړو وعدو تحقق ثبوت ته ورسوو او د عمل په ډګر کې انقلابي ارمان او هدف پلی کړو.

اوس اوس مونږ له همدغه از مايښت سره مخامخ یو. خلکو ته مو د اسلامي عدل د حکومت د ارمان تر پلاټ فورم لاندې د یوه ستر جهادي مزل د پرېکولو او سرته رسولو دعوت ورکړ او ملت هم د بې شمیره قربانیو په ورکولو سره دمنزل اورند و اتنۍ تر دې ځایه پورې را رسولی دی.

له دې ځایه وروسته دا د نهضت په قیادت پورې اړه پیدا کوي چې- هغوی په څومره ځواک او قدرت سره انقلاب او نهضت د دښمن د روانو خطرناکو توطیو څخه ساتلی شي.

په تأسف سره باید وویل شي چې جهادي قیادت لاتر اوسه پورې د دښمن د روانو توطیو په وړاندې لکه څنګه چې ښایي بیدار نه دی.

لاتر اوسه پورې د قیادت لپاره واحد پلاټ فورم نشته

لاتر اوسه پورې د جهاد او مقاومت په نړیواله سویه د معرفي کولو

څه هڅې او کوششونه نه شته.

لا تر اوسه پورې د نهضت سازماني پیکر ریز مریز پروت دی.

لا تر اوسه پورې جهاد ډیپلوماتیک سنګر نه لري.

او لا تراو سه پورې مسوولینو ونه شوای کولای چې د هجرت په چاپېریال زمونږ انصارو ورونو ته د جهاد اصلي بڼه ور وښیي. او د قضیې حقانیت ورته ثابت کړي.

حال دا چې سنګرونه مو تر ډیپلوماتیکو او سیاسي هڅو څو چنده له یوه خوځنده او فعال ډینامیزم څخه برخمن دي.

او اوس د هرچا دا ویره او ډار پرځای دی چې مبادا بیا یې یرغل د سیاست او ډیپلوماسۍ په میدان کې ونه بایلو.

موږ د نړۍ په معاصرو اسلامي نهضتونو کې د مومنو اولسونو او ملتونو له جهادي بهیرونو څخه تجربې لرو،

د الجزایر اولس یوازې او یوازې د اسلام او اسلامي حکومت په نامه وجنګید خو د مبارزې او جهاد نتیجه یې د یوه نا اهله قیادت په وجه په بې دینه سوسیالستي حکومت بدله شوه- د بې شمیره قربانیو سره سره نن بیا هم د الجزایر اولس د سرو زنځیرونو په کړیو کې راپېچلی شوی دی.

د فلسطین د مقاومت بنسټګر او اساسي محرک اسلام و، خو نن دغه مقاومت د جهاني کفري توطیو په وجه د لادینت تر سیوری لاندې د سقوط او رکود په مرګوني حالت کې راګیر دی.

موږ یرغل بیا د جهاد مومن قیادت او ټولو مسؤلینو ته ور په ګوته کوو چې ازمایښت دروند او سنګین دی.

اوټول باید د نهضت په وړاندې د روان خطرناک چلینج د پترلوارخوړ په وړاندې بیدار او ولاړسو.



سیاسي تبصره :

وخت او زمان
موږ ټولو ته ګواښ کوي

ټول په دې ښه پوهېږو چې د تېرو نهو کالونو په موده کې کومې سترې قربانۍ او ځان ځارونې چې زموږ مؤمن او بهادر اولس د روان اوږده پاڅون په بهیر کې ورکړې دي تاریخ یې مثال نه شي وړاندې کولی. یو مظلوم اولس په خپل ټول مظلومیت سره د شهادت په سره مورچل کې تنها او تنها د خپلو وینو د څپو په زور د جهاد او مقاومت لوی بهیر په وړاندې وخوځاوه او نن دا دی جهاد تر دغې مرحلې پورې را رسیدلی دی.

په دې کې هیڅ شک نشته چې د نهو کالو په دوران کې موږ خپل لوی او ستر ارمان «د اسلامي حکومت استقرار» د اوښکو، وینو، اورونو او لمبو له سخت معبر څخه دغه پړاو ته رارسولی دی چې یقیناً هم دغه پړاو د فیصلې پړاو دی او نور د جهاد د سرنوشت ټاکلو امر یو موهوم او خیالي امر نه دی. دغه مرحله چې زموږ جهاد او مقاومت پکې قرار لري، د روان اسلامي خوځښت او مقاومت تر ټول عمر له ستر اهمیت او ارزښت څخه برخمنه ده.

اوس زموږ مکار او چال باز دښمن د جنګ له سنګر څخه پورته شوی او د ډیپلوماتیک جنګ د ابتکار واګې یې په لاس کې نیولې دي.

دښمن په افغانستان کې د آمن، سولې، کرارۍ او ډزبندۍ ډنډوره په

پوره ځواک او قوت سره پیل کړه او په خپل ټول طاقت سره هغې ته سازمان ورکړي اوپه وړاندې یې خوځوي.

نوموړې وندورې او تبلیغاتي برنامې د لومړي ځل لپاره په مسکو کې دسره کامریډانو له ټولنې څخه سر را پورته کړ او دژنیو په کانفرنس کې یې د خپلې اغېزې او تاثیر رنګ ښکاره کړ.

په ځانګړي ډول سره د دغې تبلیغاتي وندورچې د اغېزې څیره تیرکال په کویټ کې د اسلامي هیوادونو د مشرانو په جرګه کې لیدلای شو.

د اسلامي هیوادونو کنفرانس د افغانستان د جهاد له ډیرو اساسي ملاتړونکو څخه ګڼل کیده او په خپله هره مهمه پریکړه کې به یې پر افغانستان باندې د روسي ښکیلاک د ظالمانه یرغل ناروا عمل ته بد ویل.

تیرکال په دغه کنفرانس کې د افغانستان په هکله ډیر سوړ برخورد وښودل شو اوپه یوه لنډه اشاره کې د افغانستان د جهاد په وړاندې اکتفاء وشوه. دغه اشاره هم البته د افغانستان د جهاد په هکله د سیاسي حل او فصل په باره کې وه.

کرملین پخوا تر دې چې په کنفرانس کې د افغانستان د جهاد پر حامي قوتونو باندې خپله اغیزه پرې باسي د نوموړي کنفرانس منشي ښاغلی شریف الدین پیرزاده یې ماسکو ته وباله، او هلته یې له افغانستان څخه د خپلو متجاوزو قواو د ایستلو په هکله پیرزاده ته تیاري وښودله.

علاوه پردې د کنفرانس په پیل کې ګورباچوف د یوه پیغام په ترځ کې د کنفرانس غړیو ته څرګنده کړه چې موږ حاضریو خپل متجاوز قوتونه له افغانستان څخه وباسو.

او د کنفرانس په پای کې هم د ګورباچوف لخوا یو تلګرام د افغانستان په هکله

د کنفرانس له فیصلې څخه د کرملین د رضایت بنودلو په جملو کې مخابره شو.

په دې توګه د جهاد دغه د ورهمه مرحله زموږ ټولو مجاهدینو څیرکتیا او هوش ته بلنه ورکوي. موږ باید د دښمن دیپلوماتیکو چالونو ته څیر و اوسو او جهادي زعامت باید پوره تیارۍ ونیسي که داسې ونه شي، او موږ بیا هم په اوسنیو نازکو حساسو او سرنوشت ټاکونکي مرحلو کې د پوره تیارۍ مظاهره ونه کړو نو خدای ناخواسته د یو ملیون شهیدانو وینې او د یوه ملت پوره نهه کاله لوی خوځښت به د تاریخ له جادې څخه بې نتیجې تیر شي.

-د جهادي زعامت اتحاد په دیپلوماتیک سنګر کې د یوه واحد دریځ او د سیاسي پلاټ فورم ترسیورې لاندې د متحدو هلو ځلو اهمیت له بل هروخت څخه د جهاد په نجات کې ځکه مهم دی چې په سیمه او منطقه کې اوضاع په داسې شکل سره روانه ده، چې په نړیوالو ټولنو کې له افغانستان څخه د جهان پر ملاتړ باندې پوره منفي اغیزه لویږي.

زموږ په منطقه کې د ایران او عراق جنګ - د خلیج پیچلي حالات - په پاکستان کې د چپیانو تروریستي فعالیتونه - د چین او روس ترمنځ په دولتي سطح د خبرو پیل - او د ایران او روس ترمنځ ورځ په ورځ بڼ دې کېدل او د روابطو - ښ دې ولې دا ټولې هغه پېښې دي چې په دیپلوماتیک ډګر کې زموږ قضیه تر اغیزې لاندې نیسي.

علاوه پر دې ددې امکانات هم زیات دي چې امریکایي و اکمنان له روسانو سره په افغانستان کې د هغوی د وران جنایت له کرم منطقوي امتیاز سره سرنا کړي. ځکه چې دا د نړیوالو کفري قوتونو خاصیت دی...

امریکایان چیرې هم په افغانستان کې د اوسني اسلامي نهضت د موجودیت

په صورت کې خپلې ګټې نشي خوندي کړلای.

د کیسنجر په قول له کابل څخه باید تهران جوړ نشي.

پخوا به کله چې د زروي او کیمیاوي وسلو د محدودیت لپاره دوا ړو کنري طاقتونو تر مینځ د خبرو تصمیم نیول کیده نو واشنګټن به د منطقوي کړکیچونو په جمله کې د افغانستان له جهاد څخه هم یادونه کوله او تر زروي وسلو مخکې به یې د منطقوي کړکیچونو د هوارې غوښتنه کوله.

خو اوس داسې نه ده او بې له دې څخه هم واشنګټن او ماسکو اتومي وسلو د محدودیت په هکله په ژنیو کې خبرې کوي.

په هرصورت زموږ د نهو کالونو ستړ اسلامي خوځښت چې یوازې او یوازې په افغانستان کې د اسلامي حکومت د استقرار له ارمان سره یوځای پیل شوی دی، اوس اوس د خپل روان بهیر ویر نازک او حساس پړاو ته رسیدلی دی.

روان حالات غوښتنه کوي چې ټول مومن او متعهد ځواکونه په پوره متانت او صداقت سره سره جهاد او انقلاب د خپل اصیل آرمان په جهت کې په وړاندې وخوځوي او کنه - دیو ملیون شهید انو په وینو پالل شوی جهاد به خدای مکړه د تاریخ له جادې څخه بې شیجې ووزي.

وخت او زمان موږ ټولو ته داسې ګواښ کوي.

محمد طارق بریالی

د اوکراینې میندو اعتراضیه لیکونه

د اوکراین د ځوانانو مشهورې ورځپاڼې اوکراین مولډ دیوې اوکراینې مور یو اعتراضیه لیک خپور کړی و، پدی لیک کې د افغانستان جګړې ته د ځوانانو د جبري لیږلو په باره کې معلومات خپاره شوی و. د دې لیک له خپریدو څخه څلور میاشتې وروسته د خلکو په عامه افکارو کې یو خوځښت او تکان را پیدا شو. که څه هم نورو ورځپاڼې دا دول- انتقادونه د یوه کوچني اقلیت غوښتنې بللي دي.

مګر بیا هم ورځپاڼو ته د دغه شان پر له پسې لیکونو رالیږل د خلکو د نه رضایت یو ښکاره ثبوت دی. دغې اوکراینې ورځپاڼې د ګیلوتر څنګ د افغانستان په جګړه کې د روسي عسکرو نقش د انترناسیونالستي وظایفو سرته رسول بللي دي. د جنوري په ۱۵ نیټه پورتنی ورځپاڼې ولیکل چې د نازي جرمني په مقابل کې د روسانو جګړه د هغې جګړې سره توپیر لري کومه چې اوس روسانو په افغانستان کې پیل کړې ده. و رځپا ڼه- لیکي د افغانستان د جګړې د جریان پیښې د روس د کارګرانو په مظلومه

طبقه ونپل شوي دي. ورځپانه په خپل تفصيلي راپور کې وايي چې د افغانستان د جګړې په حقله د روسي مطبوعاتو خپرونې له يوه تنګ نظر سياست څخه پيروي کوي او ليکوالان د پيسو په مقابل کې خپل مسلکي- مسوليتونه تر پښو لاندې کوي.

د مولد ورځپانې د روان کال د جنوري په ۲۵ نېټه د يوه پټ رازڅه پرده پورته کړې او ويلي يې دي:

چې د اوکراينې ميندو ليکوالو په ټولنه کې ضد او نقيض بحثونه مينځ ته راوړي دي. ځينې ليکوالان د افغانستان جګړه د روس د ګټوليارۀ يوه جګړه او ځينې نور بيا همدغې جګړې ته د روس په ګټو باندې پوردرونډ پيټی وايي.

په هرحال تر ګومه حده پورې چې په واقعيتونو پورې اړه لري د روسانو له ايز خبري منابع د افغانستان په جګړه داسې ليکنې کوي چې مغه د روس د دولتي منابعو په خبرونو متکي وي مثلاً د روان کال د جنوري څخه راپدې خوا د روس زياتې خپرونې وايي: په - افغانستان کې روغه جوړه اعلان شوې، د رژيم وسله وال مخالفين د فرونوڅخه راښکته شوي، او د روغې جوړې په پروګرام کې علي ونډه اخلي د همدغې پروسې په اوږدو کې د روس وسله والې قواوې هم د افغانستان څخه راوځي، مګر جګړه مار او امپرياليستي ځواکونه لکه امريکا او نور دا نه غواړي چې جګړه ختمه شي. د اوکراين مولد ورځپاڼې د- پورته په شان ليکنو په راپورترانو باندې انتقاد کوي او وايي يو خبريال بايد د ټل لپاره خپل مسلکي نقش د سرکاري غوښتنو تابع ونه

ګڼي هر روسي خبریال چې د افغانستان د جګړې په باره کې څه لیکي نو-لومړی باید افغانستان ته لاړ شي هلته هره ورځ تکراریدونکي ترخه واقعیتونه وګوري او د هغو له کتلو څخه وروسته هغه څه ولیکي کوم چې په افغانستان کې روان دي.

یو خبریال د انسانانو د زړه خبرې هغه وخت د قلم څوکې ته راټولولی شي چې د جګړې د عسکر سره د راپور تر په توګه نه بلکې د ټولنې د یوه عادي غړي په شان ګډون وکړي.

که چیرته د خبریالۍ دا اصل عملي شي نو موږ به وینو چې په روسي مطبوعاتو کې دغه شان خپرونو ته ځای نشته. یو لیکوال د اوکرایینې مور د دې نظر سره موافقه لري چې د افغانستان جګړه د المان له جګړې سره توپیر لري. یوې بلې مور له اوکرایینې مور سره خپل راز شریک ښودلی او وایي: موږ پدې خبره ډیر خفه یو چې د افغانستان په جګړه کې د روس د عسکرو مړینه ورځ په ورځ زیاتیږي هلته د پوځي قواو لپاره، خوراک-پوښاک او دارو درمل نه رسیږي.

د دې اعتراض په مقابل کې یو خبریال لیکي روسان کوښښ کوي چې خپلو قواو او متحدینو ته د ژوندانه د اړتیا وړ مواد ورسوي مګر د امپریالیزم نوکران په لارو کې د موادو په وړونکو وسیلو حملې کوي او نه پریږدي چې دا مواد اړمنو (مستحقو) کسانو ته ورسیږي.

یو بل خبریال لیکي: د ډیرو خلکو نه داسې د ګیلو څخه ډک لیکونه لاس ته راځي چې په هغې کې لیکل شوي وي: د افغانستان جګړې ته د د ټولنې د خوارو او غریبو خلکو زامن استول کیږي د بډایانو او مامورینو

ځوانان د خپلو کورونو او د فترونو تر څنګ عسکري وظایف او دندې سرته رسوي مثلاً د ګوند د یوه منشي دوه ځوانو په یوه ځای کې د خپل کور سره نیژدې عسکري کوله.

دوه تنه لیکوالانو د یوه لیک په ترڅ کې ګیله کړې چې یوازې د لوړ رتبه مامورینو ځامن د افغانستان په جګړه کې د ګډون څخه پړه دي. کوي مګر همدا کسان د خلکو په ځامنو انتقاد کوي چې ولې د افغانستان جګړې ته نه ځي. د لیکوالانو وایي باید مسئله د نژدې څخه مطالعه کړو، ځکه د غټانو ځامن بدې ور کوي تر څو مړه نشي اخر د میهني لپاره همدا غریب خلک پیدا شوي. د افغانستان جګړې ته د استولو مسئلې د یوه لور قشر مرام دی او پدې باندې فکر کول بکار دی ځکه جګړه د جګړه کوونکو طبقاتو د غوښتنو تابع نه ده.

د لیکوالان عقیده لري چې مونږ باید د ستالین د زمانې سترونزې را ژوندی نکړو ځکه د هغې وخت مامورینو به خلکو ته سزاګانې ورکولې مګر د وی پخپله د سزا څخه معاف ؤ.

یو بل خبریال د افغانستان د جګړې بل اړخ تر انتقاد لاندې نیسي او لیکي: هغه عسکر چې د افغانستان د جګړې څخه ژوندي راګرځي هغوی ته د تبلیغاتو دایره پراخه ده مګر همدا عسکر د خپلو لوړ رتبه منصبدارانو د کړو وړو څخه ګیلې لري او د خپلې سیمې د ګوندي مامورینو د ـ عکس العمل څخه زړه بدي دي.

د مولد د ورځپاڼې مقاله پدې جملو پای ته رسیږي:

د ازمونږ د ټولنې د خلکو د نده ده چې باید له دې څخه وروسته چېه

او پته خوله پاتې نه شو. زموږ ستره بدغي پدې کې ده چې زموږ زړونه غواړي رښتيا ووايو او رښتيا وليکو مګر د خواشينۍ ځای دا دی چې موږ په رښتيا ويلو عادت نه يو نو ځکه رښتيا ليکلی نشو دا واقعيت موږ ته هغه وخت ښه روښانه کيږي چې موږ خپلې د ځپانې او جريدې ګورو. موږ لا تر اوسه هم د واقعيتونو د ويلو او ليکلو څخه ويره لرو. سره له دې چې موږ اوس د رښتيا ويلو په لوري يو ګام اخيستی، مګر خبريالان او ـ ليکوالان تر اوسه هم د دې حق نلري هغه څه چې په افغانستان کې ـ روان دي د هغې بهير انځور د ژوندي واقعيت سره يو ځای خلکو ته وړاندې کړي.

الهی آبروی ما نگهدار
وطن را تا بود دنیا نگهدار
الهی در نبرد نابرابر
تهی دستان پردل را نگهدار

ليكوال : د سکندريې پوهنتون د فلسفې استاد عبدالحميد بصره.
ژباړن : انجنير صفدر خروټی.

په اسلامي نړۍ کې

د پوهنو تاريخ ته يوه کتنه

په اسلامي نړۍ کې د پوهنو د ځلانده عصر تاريخ له اتمې ميلادي پېړۍ شروع کېږي او د څوارلسمې ميلادي پېړۍ تر څو لسيزو پورې دوام کوي . په دې زمانه کې مسلمانان د هغو پوهنو اصيل خاوندان وو چې له يونانيانو ، هندوستانيانو او ايرانيانو يې په ميراث وړي وو . له همدې کبله د پوهنو ستر مورخ جورج سارټن وايي چې په منځنيو پېړيو کې د پوهنو تاريخ د اسلامي پوهنو له تاريخه سيوا بل څه نه دی او په هغه وخت کې د مسلمانانو پوهنه لکه په لرغونو زمانو کې د يونانيانو او په اوسنۍ زمانه کې د غربيانو پوهنه د قدرت پر

مسند ناسته وه . ځینې مورخین تر سارتن د مخه له دې حقیقته خبر شول خو دی لمړنی عالم وو چې په دې باره کې يې د علومو د تاریخ د تطبيقي څېړنې له مخې مدللې خبرې وکړې . بنه به دا وي چې په دې هکله د سارتن خبرې دلته رانقل کړو :

„ په لرغونو زمانو کې د پوهنو ډېرې اهمې نسخې له یوناني نبوغه سرچینه نیسي او په منځنیو پېړو کې (خصوصاً د اتمې پېړۍ د نیمايي او د یوولسمې پېړۍ د پای تر منځ) اکثره علمي کشفیات له شرقي اسلامي نبوغه رازېږېدلي دي . . . دا سمه ده چې یو لړ اهم تالیفات (په دې دوره کې) په لاتیني ژبه شوي او څه تالیفات هم په دې وخت کې په سریاني ، چیني،سنسکریت جاپاني او فارسي ژبو شوي چې د اهمیت په لحاظ له لاتیني تالیفاتو کم نه وو ، خو کوم تالیفات چې په عربي ژبه وشول دا نسبت نورو تالیفاتو ته هم د تاثیر له مخې او هم د ارزښت او اصالت له مخې لوړ وو . د اتمې عیسوي پېړۍ له نیمايي د یوولسمې میلادي پېړۍ تر پایه پورې عربي ژبه د انساني پرمختګ ژبه وه او په دې زمانه کې که هرچا غوښتې چې له ډېرو ډېرو نويو نويو معلوماتو خبر شي نو بایده وو چې عربي ژبه یې زده کړې وی . . . لکه نن چې د دې مقصد لپاره د لوېديځ

ستړې ژبې زده کولی شي . »

وروسته بیا سارټن د دې دور د ځینو اسلامي پوهانو او نوابغو لکه جابر بن حیان ، کندي ، خوارزمي فرغاني ، رازي ، ثابت بن قره ، تباني ، حنین بن اسحاق فارابي ، ابوالوفاء بوزجاني ، بیروني ، ابن سینا ، ابن یونس خیام ، ابن هیثم او ذرقالي ذکر کوي او وایي :

« که څوک ووایي چې مخکنۍ پېړۍ په علمي لحاظ بې- برکته وې نو دې فهرست ته دې وګوري . دې ټولو پوهانو په نسبتاً لنډه موده کې یعنې د ۷۵۰ او ۱۱۰۰ کلونو په منځ کې خپل نبوغ څرګند کړی دی .

د اسلامي ثقافت لمر په دې وخت کې له یوه کونجه رڼا نه خوروله . دې رڼا ډېر مرکزونه لرل ، لمړنی مرکز بغداد وو چې د دوهم عباسي خلیفه منصور یې بنسټ ایښی وو . د مختلفو دینونو او توکمونو پوهان په بغداد کې په داسې لوړ بینه او روڼ تندي او تشویق او ترغیب له یو بل سره مخامخ شول چې مخوا یې سابقه نه لرله . دا بغداد وو چې مامون الرشید یکې په ۸۳۰ میلادي کال کې د اسلامي نړۍ لمړنۍ تحقیقاتي اکاډیمي یعنې « بیت الحکمة » تاسیس کړه . دا اکاډیمي چې دارالترجمه او د عالي پوهنو مدرسه وه د یوه کتابتون په څنګ کې جوړه وه چې منصور ، هارون او مامون ورته له بیزانس ، هند او ایرانه کتابونه

راغوښتي وو .

په دې سيمه کې د عباسي دولت تر تاسيس دمخه امويانو اسپانيا فتحه کړې او د اندلس ـ عربي ثقافت په رامنځ ته کولو کې يې زيار ايستلى وو . له همدې کبله لا لسمه عيسوي سده شروع شوې نه وه چې قرطبې بيا د اسلامي ثقافت د يوه اهم مرکز حيثيت وموند او د پوهنې پتنګان به ورته له اسيا ، افريقا ، اسپانيا او اروپا راتلل . د ثاني حکم په وخت (۹۶۱ـ ۹۷۶م) کې د قرطبې پوهنتون چې دريم عبدالرحمان (۹۲۹ـ ۹۶۱م) يې بنسټ ايښى وو ، ډېر مشهور شو . حکم د کتابونو د راټولولو او استنساخ په کار کې زيار وويست . د تاريخ پوهانو له خولې د راټول شويو کتابونو مقدار څلور زره ټوکه ته رسېده .

د يوولسمې عيسوى پېړۍ په شروع په ۱۰۰۵م کال کې فاطمي خليفة الحاکم د قاهرې «دارالحکمه» تاسيسه کړه . د دې پوهنتون هدف د شيعي پوهنو تدريس وو خو د اسلامي پوهنو ترڅنګ نجوم او طب هم په تعليمي پروګرام کې شامل وو . دې پوهنتون د فاطميانو د حکومت تر پايه (۱۱۷۱ م) پورې (که څه هم ملک افضل په کال ۱۱۱۹م يو ځل بند کړ) خپل کار ته ادامه ورکړه او د الحاکم وخت وو چې د ابن يونس او ابن هيثم په

څېړ د اسلامي نړۍ ډېر زيات ستر پوهان پيدا شول .

په يوولسمه ميلادي پېړۍ کې د اسلامي ثقافت د اصلي مرکزونو يعنې بغداد او قاهرې او قرطبې په منځ کې داسې شديد رقابت وو لکه په لسمه پېړۍ کې چې دا سيالي د بغداد او قرطبې ترمنځ موجوده وه. دا به عجيبه خبره نه وي که د لسمې پېړۍ د نيمايي او د يوولسمې پېړۍ د پای تر منځ موده د اسلامي پوهنو د ځواک او اصالت د اوج موده وګڼو ، خو مونږ بايد دې غوړېدلې دورې ته تر نظر اچولو د څه ځنډېنې دورې يعنې د اتم عيسوي قرن تر منځ وخت ته سترګې ورواړوو .

دا دوره په رښتيا سره چې مهمه دوره وه ، البته نه يوازې د اسلامي پوهنو بلکې د ټولې انساني پوهنې په تاريخ کې . بې له شکه چې مورخين د خپلو څېړنو او ګروېږنو په لړ کې د دې دورې له مطالعې او څېړنې لکه د رنسانس د دور له مطالعې کله هم زړه توري کېږي نه. دا دوره د خپل طبيعت په لحاظ د نقل او ژباړې او تمرکز او رغاونې دوره وه . مونږ د خپل عادت له مخې دا غواړو چې نقل او ژباړې ته په درنه سترګه ونه ګورو او ابتدايي او ذاتاً کم اهميته کارې وګڼو . دا تصور لکه

ځکه چې بنسټ ايي موږ ته د علم د تاريخ په ادراک نه بريالي کوي . د علم په تاريخ کې نقل او ترجمه خصوصاً چې له انتخاب او ترکيب او اضافت سره مله وي ، له مستقل او اصيل فکري محصول نه کم ارزښته نه وي. په هر حال موږ دلته د ژباړې او نقل له يوه بې نظيره غورځنګ سره مخامخ کېږو .

د اسلام تر خوربېدو د مخه يوناني علم ، هندي علم ايراني علم او داسې نور موجود وو خو داسې نړيوال علم چې خپله لاره نېغه ووهي او له سياسي پېښو په امن کې وي ، وجود نه درلود . خو هغه وخت مسلمانان راغلل او ټول علوم يې په عربي وژباړل او د علم دنيا يې لويه کړه او علم ته يې نړيوال رنګ (چې نن يې موږ د علم جوهري خصلت ګڼو) ورکړ . مسلمانانو په خپل منځ کې د عربي ژبې د بين الاسلامي کېدو يو داسې کار وکړ چې د هغه په کولو د لوی سکندر فتوحات نه وو توانېدلي. دوی وکولی شول چې واحده علمي ژبه رامنځ ته کړي. د دولسمې پېړۍ له ابتدا د دوی د تاليفاتو ژباړنه په لاتيني ژبه پيل شوه .

اوس به نقل او ترجمه پرېږدو او له ثقافتي تمرکزه به خبرې وکړو چې په خپل نوعيت کې ساری نه لري. عربو تر اسلام مخوا ،د سوداګري له لارې له ايران او هند

سره اړيکې لرلې خو دې اړيکو پرته د ځينې ساده کيمياوي مسلو او طبي درملو له پوهنې دوی ته څه نه وو ور زده کړي . ډېر اهم خارجي تاثير په دوی کې د جنديشاپور ښار له فتحه کولو وروسته ولېدل شو . ساساني واکمنو چې د حکومت کولو ابتدايي څلور سوه کاله پخوا له هجرته شروع کړې ، په نوموړي ښار کې يو طبي ښوونځی پرانستلی وو . دا ښوونځی د هغو نسطوريانو پناه ځای گرځېدلی وو چې له «ادسا» په د مذهبي فشارونو له لاسه راتښتېدل . دا ښوونځی د انوشيروان په وخت (۵۳۱ - ۵۷۹م) کې د خپل عظمت اوج ته رسېدلی وو او کله چې په ۵۲۹م کال ژورستينين د يونان اکاډيمي بنده کړه نو يوناني فيلسوفان جنديشاپور ته راغلل او انوشيروان يې مرسته وکړه . انوشيروان ځينې هندي پوهان هم ايران ته د عوت کړل او په دې ډول جنديشاپور يو داسې ثقافتي مرکز شو چې د هندي ايراني او يوناني پوهنو سرن يکې يوله بله گډ او يکې هندي يوناني ، سرياني او ايراني تاليفات وژباړل شول . همدارنگه په همدې ښار کې د اسلام له بري وروسته په عربي ژبه لمړنۍ ژباړنې پيل شوې . جنديشاپور حتی د بغداد د بنسټ اېښودلو په وخت په کال ۷۶۲م کې يو غوړېدلی ثقافتي مرکز وو او طبي ښوونځی خو يې د لسمې ميلادي

پېړۍ تر پایه پورې خپل کار ته ادامه ورکړه . د عباسي خلفاوو د همځو په وجه ونو ورو د دې بنار ثقافتي تمرکز بغداد ته چې د جندیشاپور د شمال ختیځ په څلور سوه کیلو متره کې پروت وو ، نقل شو. بغداد نه یواځې له جندیشاپوره بلکې د حران او صابئین له لارو د سکندرې د مدرسې له میراثه هم ډېره ثقافتي برخه خپله کړه . په سکندریه کې به د ریاضي پوهنو، نجوم او د یوناني تالیفاتو ژباړې ته ډېره پاملرنه کېده .

په دې توکه په بغداد کې یو داسې ثقافتي تمرکز رامنځ ته شو چې د سکندرې پرعلمي حوضې یې څو چنده برترې درلوده . دا ځکه چې د سکندرېې مدرسه په اکثرو برخو کې د یوناني ژبې او تمدن ادامه وه او د تدریس او تالیف ژبه هم پکې یوناني وه ، خو بغداد علم د بیزانس هند ، ایران او سکندریې له متعددو لارو خپل کړ او لازمه دا شوه چې دا علم په بله ژبه چې هغه نه یوناني وې نه فارسي او نه هندي ، وژباړل شي .

په همدې وخت او ځای کې اعجاز ته ورته واقعه پېښه شوه . عربي چې تر اسلام مخوا د شعر ژبه وه او وروسته بیا د الهي وحیې پرژبې بدله شوه او لا د بشري علم ژبه نه وه ځنې جوړه شوې چې په یوځلي د بشري علم ژبه شوه . په همدې وجه په دې مرحله کې په عربي ژبه

ژباړلو ته باید ابداع او نڅولو ته ورته کار ووایو نه د ترجمې یو ساده کار .

د ژباړونکو دنده دا وه چې نوي فلسفي او علمي اصطلاحات ونڅوي. تجربې وښودله چې عربي ژبې پرته له دې چې څه ځنې کم شي او جوهر او جوړښت ته یې تاوان ورواړوي ،کې علوم خپل کړل . دې ژبې خپل استعداد او متانت د کار تر پایه پورې وښوده .

شارټن د اتمې میلادي پېړۍ او نهمې میلادي پېړۍ د منځ کلونه د حماسې کلونه یادوي . په حقیقت کې په اسلامي نړۍ کې د پوهانو او علمدوستانو فعالیت او حماسه د پوهنو د ټولونې اوڅېړنو په برخه کې د دې وخت د تعجب وړ امر دی . ژباړنې په دې وخت کې د علمي معرفت ټولو برخو ته لاره وکړه . منصور او هارون د یوناني مخطوطاتو د لاس ته راوړلو لپاره بیزانس ته هیئتونه ولېږل. مامون بیا له هندوستانه سره د ثقافتي اړیکو د ټینګښت توصیه وکړه .

دا سې شواهد ډېر موجود دي چې دا ښیي چې ایراني او هندي اثرات په دې وخت کې تر یوناني اثراتو مقدم او حتیٰ څه لنډه موده وروسته زورور هم وو . د دې شواهدو له جملې یو هم یوه تاریخي کیسه ده چې وايي یو هندوستانی (چې ابن ندیم یې کله « کنکه » او کله هم

« منکه » معرفي کوي او ابن قفطي وايي چې شايد دا سړی په « کبکه » نومېده) د منصور دربار ته راغی (۷۷۱ م کال) او له ځانه سره يې د « سدهانتا » کتاب چې په « سندهند » مشهور دی راووړ . دا کتاب د پنځمې ميلادي پېړۍ د نجومي مقالو يوه مجموعه ده . د کتاب اهميت په دې کې دی چې ځينې مقالې يې د مثلثاتو د اصولو په باره کې وې . همدارنګه دا احتمال شته چې د هندي اعدادو خصوصاً د صفر نظريه چې لوېديځ ته يې له رسېدلو وروسته يې په عربي اعدادو شهرت وموند په نوموړي کتاب کې شامله وه . بې له شکه دې کتاب د اسلامي رياضياتو او نجوم په پرمختګ ژور اثر لرلی دی. اسلامي منجمانو هندي اعداد د رومي اعدادو پر ځای وکارول او په خپلو نجومي څېړنو کې يې د مثلثاتو له حسابه او مثلثاتي نسبتونو نه ګټه واخېسته . علاوه له دې يې د بطليموس لاره، په اوتارو باندې د زاويو د اندازه کولو په برخه کې پرېښوده. ابن نديم وايي : منصور د « سندهانتا » ژباړنه محمد ابن ابراهيم الفرازي ته وسپارله چې په عربي يې وژباړي حال دا چې د بطليموس مشهور نجومي کتاب يعنې « المجسطي » د نهمې عيسوي پېړۍ تر اوايلو پورې په عربي ونه ژباړل شو . دا د شرقي هندي تاثير يو مثال وو چې د دې علمي نهضت په ابتدا کې د نجوم او رياضي په برخه کې ورسره مخامخ کېږو . همدارنګه دې نهضت په ابتدا

کې فلکي جدولونه له پهلوي کال هېندارو (تقاویم) چې په ساساني عهد (۲۲۶ – ۶۵۲) کې برابرې شوې وې، د اسلامي نړۍ پوهنو ته رانوتل . دا جدولونه یا کال هېندارې به یې « ازیاج » بلل چې د « زیج » جمعه او د پهلوي له « زیک » نه ماخوذ دی . دا تسمیه چې په اسلامي تالیفاتو کې ثبت ده ، په خپله د پهلوي ژبې د تاثیر قدامت نسبت یوناني ژبې ته ښیي .

منصور هم جرجیل بن جبریل بن بختشوع له جندیشاپوره بغداد ته راوغوښت او د طبي تالیفاتو ژباړنې ته یې وګماره. جرجیس یو په کارپوه او مجرب طبیب وو چې د جندیشاپور د لوی روغتون د نظارت کار یې په لاس کې وو . د هغه خاندان چې په طبي پوهنو کې یې ډېر شهرت درلود د یوې اوږدې مودې لپاره د عباسیانو په خدمت کې وو . ویلی شي چې جرجیس بن بختشوع په عربي ژبه د طبي تالیفاتو لمړنی ژباړن دی . البته دا تالیفات موږ ته نه دي رارسېدلي . عبدالله بن مقفع هم له پهلوي ژبې ځینې طبي تالیفات په عربي واړول .

البته دا به سمه نه وي چې د ترجمې د کار په ابتدا کې د منقول میراث پر اهمیت ډېر زور واچوو ځکه دا میراث په خپله خالص شرقي نه بلکې له یوناني عناصرو سره مخلوط وو . بله دا چې ترجمه یوازې له

ایراني او هندي منابعو نه وه . د مثال په ډول «ابو-یحییٰ البطریق» په هغه عهد کې د «جالینوس» او «سقراط» کتابونه په عربي وژباړل .

دا هرڅه د اتمې عیسوي پېړۍ د دویمې نیمایي په شاوخوا کې ترسره شول . په نهم قرن کې د ژباړې نهضت پیاوړی شو او د «بیت الحکمة» له تاسیس سره د ژباړې کار د علمدوستانو له برکته لا وسعت وموند. د دې علمدوستانو له جملې د هارون په وخت کې د یحییٰ بن خالد برمکي او د مامون په زمانه کې د بني موسیٰ بن شاکر نوم اخېستلی شو . برمکي یحییٰ به هندي فیلسوفان او طبیبان نازول او حجاج بن مطر د «اصول اقلیدس» کتاب د ده لپاره وژباړه . د بني موسیٰ په هکله ابن ندیم داسې وایي :

«... او دا ډله د لرغونو پوهنو د لاس ته راوړلو لپاره د زیار او کار بېخي اخري مرحلې ته ورسېدله او په پیسو یې صرفه نه کوله او په دې لاره کې یې هرې سختۍ ته تن ورکړی وو او د پوهنو د حصول لپاره یې «روم» ته کسان واستول او له هره لوري یې ژباړونکي د ډېرو بخششونو په برکت په ځان راټول کړل او د علم په برخه کې یې د تعجب وړ پرمختګونه وکړل چې ډېر زیات پرمختګ یې په هندسې او حیل او حرکات او موسیقي کې او ډېر

لـرن يې په نجوم کې پـه نصيبونو شول .»

د هغه وخت د ټولو عربي ژباړنو د ذکر په لټه کې نـه یم، صرف د ځینو په ذکر به اکتفا وکړم . د نهمي پيړۍ پـه اوله نيمايي کې حجاج بن مطر د «اصول اقليدس» کتاب دوهم ځلي پـه عربي وژباړه او د بطليموس د «المجبسطي» کتاب يې هم له سرياني ژبې ترجمه کړ . «هلال بن حمص» د «اپولونيوس» د کتاب ځینې مـقالې د مخروطي قطوعو په باره کې وژباړلې او د نهمي ميلادي پـېړۍ پـه دويمه نيمايي کې دوه سـتر او پوه ژباړونکی يعنې ثابت بن قـرهٔ حـراني او حنين بن اسحٰق د اسلامي پوهنو دايـرې ته رادا خل شول. سره له دې چې دوی دواړو پـه ځینو برخو کې له یو بله همکاري لرله خو په ژباړنه کې د هر یوه مکتب بېل دی . د ثابت بن قـره مکتب د اقليدس ، ارشميدس ، اپولونيوس بطليموس ، تئودوسيوس او نورو د رياضي د اهمو بـرخـو ژباړنه د خپل کار موضوع ګرځولې وه حال دا چې د حنين بن اسحق او نسطوريانو مکتب د بقراط او جالينوس د اهمو طبي تاليفاتو ژباړنې ته ملا تړلې وه . رښتيا دا هم بايد ذکر کړو چې قسطا بن لوقا بعلبکی د ستر قدر وړ سړی وو او ابن نديم د هغه په هـکله داسې وايي: « هغه بايد د هغه فضل او شرافت په وجه چې طب کې يې درلود ، پـه حنين مقدم وګڼو .» . قسطا بن لوقا

په طب او رياضي کې ډېرې ژباړنې وکړې چې په هغو کې د (ديوفنطس) ځينې مقالې د " الجبر " په باره کې هم شاملې وې .

بې له شکه چې ځينې ژباړنې به د دقت له مخې نه ترسره کېدلې او د دوباره ژباړنې ايجاب به يې کاوه لکه اصول اقليدس چې د مامون په وخت کې دويم ځلي ترجمه شو .

له برنيو مثالونو دا ګومان پيدا کېږي چې د نهم قرن تر پايه پورې د اسلامي پوهانو فعاليت په ژباړنې پورې منحصر دی حال دا چې واقعيت داسې نه دی . د اسلامي نړۍ د علومو په تاريخ کې ژباړنې ته خاصه دوره نه شو ټاکلی . تاليف له هماغې اولې مرحلې د ژباړنې تر څنګ غزونې کولې . همدارنګه د اولې مرحلې له پايه سره ژباړنه بس نه شوه . شايد کافي وي چې د اتم ميلادي قرن د دويمې نيمايي په هکله ووايو چې د جابر بن حيان (کوفه ۷۷٦) او د هغه د شېړنو او بحثونو دوره وه . هغه ته د سلو په شاوخوا کې کتابونو نسبت شوی دی چې ځينې يې په لاتيني کې وو خو عربي نسخې يې په لاس کې نه لرو . جابر بن حيان په کيميا باندې داسې اثر غورځولی دی چې ستړګې څنې نه شي پټېدلی .

او اما نهمه پېړۍ د کندي او بني موسیٰ (محمد حسن واحمد) او خوارزمي او فرغاني او رازي دوره ده .

کندي د هندي عددونو د کارولو په موضوع او د کېميا د علم په اساسي فکر يعنې « د کم بيه فلزاتو بدلون په ګران بيه فلزاتو » باندې کار وکړ. خوارزمي الجبر تاليف کړ او په رياضي کې له ځانه وروسته ډېر ژور فکر پرېښود . په همدې عصر کې وو چې له مثلثاتو د فلکي جدولونو د محاسبې لپاره ګټه واخېستل شوه او مسلمانانو نوي مثلثاتي نسبتونه هندي مثلثاتو ته ور داخل کړل .

بني موسیٰ نه يوازې د ژباړونو په څېړلو اکتفا ونه کړه بلکې په رياضي کې يې هم ستر کارونه وکړل . مثلاً د زاويې د تثليث مسله چې پرکار او خط کش (چې د اقليدسي هندسې د مسلې په حل کې کارول کېږي) يې د حل دپاره کافي نه دي . ثابت بن قره وکولی شول چې د اقليدس د پنځمې موضوع اصل ته دليل راوړي او دا يو داسې کار وو چې د اقليدسي هندسې په تاريخ کې يې ستر اهميت درلود . ځېنې نور مشکل مسايل هم ده حل کړل . د متحابه عددونو د محاسبې اصول ده ته منسوب دي . د نهمې عيسوي پېړۍ په دويمه نيمايي کې عبدالله بن عيسیٰ ماهاني زيار وويست چې د زمکې کره پر محدود نسبت وويشي خو بريالی نه شو . مګر د ده زيار په يوې درېمې درجې معادلې بدل شو چې د

ماهاني معادلې په نامه د اسلامي رياضياتو په تاريخ خاص فصل لري .

فرغاني په دې پېړۍ کې د نجوم په هکله يو جامع کتاب تاليف کړ چې تاثيرات يې له اسلامي نړۍ هم ورتېر شول . دا کتاب د پنځلسمې ميلادي پېړۍ تر پايه پورې مشهور وو . دا دوره د نجومي آلاتو او رصدخانو د جوړولو د ډېر فعاليت شاهده ده . نجوميانو به د بطليموس نظريات د خپلو مشاهداتو د نتيجو په رڼا کې تعديلول . د نجومي آلاتو ډېره مشهوره آله اسطرلاب وه . لمړنی مسلمان چې اسطرلاب يې جوړ کړ ابراهيم الفرازي (د ۷۷۷ م کال مړ) دی او علي بن عيسی اسطرلابي په عربي ژبه لمړنۍ رساله د اسطرلاب په باره کې په ۸۳۰ م کال کې تاليف کړه . د منصور له وخته راهيسې نجوميانو د ځمکې د دقيقې اندازه ګيرۍ ته پاملرنه وکړه .

په طب کې رازي د « الحاوي » کتاب تاليف او د حبصه او جدري رساله يې تدوين کړه . همدارنګه حنين بن اسحٰق د « في العين » مشهور کتاب وکېښ .

دا مثالونه مې په دې وجه ذکر کړل چې په ډېر اختصار سره د دې دور د تاليفاتو د ډېرښت او تنوع څرګندونه وشي . دلته به د دې دور له ګڼو شرحو يوازې د ماهاني شرحه پر اقليدس او ارشميدس او د

ابی العباس بن حاتم النیریزی شرحه د ارشمیدس پر اصولو او د بطلیموس پر المجسطي ذکر کړو ، دا به سمه نه وي که له شرحې نه مراد یواځې تفسیر او توضیح وي. شرحه به منځنیو پېړیو کې ډېر ځله لیکوالو د خپلو نظریاتو د څرګندونې او خورونې لپاره کښله . د مثال په توګه د اصولو پر کتاب د نیریزي شرحه د څو صحیفو مجموعه ده چې هره برخه یې د یوې ځانګړې رسالې په باره کې رساله ده چې له مستقل انتقادي تفکره سرچینه اخلي .

دا وو د اتمې میلادي پېړۍ د دویمې نیمایي او نهمې میلادي پېړۍ په کلونو کې د اسلامي نړۍ د پوهنو پولنه او پرسېړنه ذکر .

لسمه میلادي پېړۍ لا نه وه شروع شوې چې عربي ژبې د نړیوالې علمي ژبې حیثیت غوره کړ . که څه هم په لسمه میلادي پېړۍ کې به ځینې تالیفات په یوناني لاتیني او عبري ژبو لیکلی شو نو نوي افکار او اکتشافات به په عربۍ کې خپرېدل .

اسلامي تالیفات د یوه داسې نفوذ او تسلط لرونکي وو چې نور مولفات نه وررسېدل . مونږ د مخه هم وویل چې د ژباړې کار له نهمې پېړۍ سره بس نه شو او باید وواېو چې د لسمې پېړۍ په لمړۍ نیمایي کې ابو عثمان دمشقي

د اصول اقلیدس د کتاب لسمه مقاله د سکندراني ریاضي پوهاند پاپوس (چې په دریمه میلادي پېړۍ کې یې ژوند کاوه) له شرحې سره یوځای وژباړله . دې اهمې ژباړې پر مسلمانو ریاضي پوهانو ژور اثر وکړ او د دوی پام یې د اقلیدس په لسمه مقاله کې د ګونګو (اصم) عددونو خواته راواړاوه . په همدې وجه د ابوعثمان ژباړه د مسلمانانو په منځ کې د هندسې د تاریخ نوې مرحله پیل کړه. د دې خبرې ذکر به بې ځایه نه وي چې د پاپوس د یوناني شرحې متن پر اصول اقلیدس اوس نشته او موږ ځنې صرف د ابوعثمان دمشقي د ژباړې له برکته خبر یو . د لسمې میلادي پېړۍ په اوله نیمایي کې په ریاضي او طب کې د داسې اشخاصو لکه ابراهیم بن سنان ، ابوکامل بلخي او همداني له تالیفاتو سره سره باید ووایو چې دا دوره د نسبي سکون دوره وه . دا سکون د اسلامي پوهنې د انتها ښکارندوی نه بلکې د یوه پراخ، پیوسته او پیاوړي علمي غورځنګ علامه وه . دا غورځنګ د لسمې پېړۍ له منځه شروع او د یوولسمې پېړۍ تر پایه پورې جاري وو. داسې معلومېږي چې اسلامي پوهانو وروسته له ډېرو شجاعانه کارونو او سیرونو د څه نظم او ترتیب او تمرکز اړتیا احساس کړه . په همدې وجه باید د لسم میلادي قرن دویمه نیمایي د دایرة المعارفونو دوره وګڼو .

مطهر بن طاهر د خلق کتاب تدوین کړ او محمد بن احمد خوارزمي مفاتیح العلوم وکښل . د اخوان الصفا رسایل تالیف شول او ابن ندیم د الفهرست کتاب خپور کړ . د دې تالیفاتو د اهمیت په باره کې به د سارټن خبرې رانقل کړو :

" که څوک وغواړي چې له هره اړخه د علم او تمدن تاریخ د لسمې میلادي پېړۍ په نیمایي کې نیمایي کې وڅېړي نو باید مفاتیح العلوم ، اخوان الصفا او الفهرست ته نظر واچوي . "

د دې دور د تالیفاتو ډېرښت یواځې د دایرة المعارفونو په تدوین پورې محدود نه دی ځکه دا وخت علاوه پر نویو ژباړنو او هغو زیاتو شرحو چې د اقلیدس د یونانتوس ، منالاوس او بطلیموس پر تالیفاتو وشوې اسلامي پوهانو د پوهنې د پرمختګ په لاره کې نوي ګامونه واخیستل . د بېلګې په توګه باید ووایو چې په دې وخت کې ابوجعفر خازن بریالی شو چې د ماهاني معادله د مخروطي قطعو په وسیله حل کاندي . همدارنګه د مفاتیح العلومو لیکوال محمد بن احمد خوارزمي د ډېرو هندسي او جبري مسئلو په حل کولو بریالی شو . ابوسهل - قوهي وتوانېدو چې د ارشمیدس او آپولونیوس له خواځېني وضعه شوي مسایل حل کړي . په همدې ډول ابوسعید احمد

بن عبدالجليل سجزي د زاويې د كشف دپاره هندسي لارې كشف كړې .

دا ستر پوهنيز غورځنګ چې د لسم قرن په دويمه نيمايي كې تجديد شو په يوولسمه ميلادي پېړۍ كې خصوصاً په اوله نيمايي كې اوج ته ورسېده او په دې (دول) سره موږ كولى شو چې دې پېړۍ ته د اسلامي پوهنو زرينه دوره ووايو .

د دې پېړۍ د تشخص ځنبه په اسلامي نړۍ كې د ثقافتي منځيو (مركزونو) خپرېدنګ او تعدد دى . قرطبه د ثاني حكم (٩٦١ - ٩٧٦م) په زمانه كې په لوېديځ كې د ثقافت ځلانده منځى وه . خود اسلامي ثقافت اصلي مركزونه د لسمې ميلادي پېړۍ تر پايه پورې په ختيځ كې يعنې په عراق او ايران او سجستان كې وو . د لسم ميلادي قرن په پيل كېدو سره د قرطبې پوهنيز (علمي) غورځنګ ځواكمن شو . په قاهره كې «دارالحكمه» جوړه شوه . اسلامي پوهان په ټوله اسلامي نړۍ كې په شرق او غرب كې خواره شول چې د دوى له بركته په منځنيو پېړيو كې د بشر فكر خپلې انتها ته ورسېده . يوولسمه ميلادي پېړۍ د وتليو نوابغو يعنې د بېروني او ابن يونس او ابن هيثم او ابن سينا او خيام او ځينو نورو علمي بنا غليو پېړۍ وه .

دا لنډوکې مقاله دا وس نه لري چې د مؤخرالذکرو پنځو تنو د پوهنیزو کارونو نتایج حتیٰ په ډېراختصار سره هم ذکر کړي. خو بیا هم لازمه ښکاري چې د دوی د کارونو له تنوع او د هر یوه له خاص شخصیته څه ذکر وکړو:

بېروني او ابن سینا تر هرڅه له مخه د پوهنې ښاغلي دي خو په دې توپیر چې ابن سینا د ترکیبي عقلانیت نماینده او بېروني د مطلق انتقادي عقلانیت ښوونکی دی او دواړه عقلانیت د پوهنې پرمختګ ته ضروري دی، ځکه انتقادي تحلیل او ترکیبي نظام د بشري تفکر په تاریخ کې دوه متلازم حرکات دي. که څه هم ابن سینا څه وخت د نجومي رصد او د هغه د وسایلو د تکمیل په کار بوخت وو خو زیات کار یې د پوهنیزو پانګو د تنظیم کولو په برخه کې وکړ. بېروني د نجوم په برخه کې یو جامع کتاب وکېښ چې د مسعودي قانون په نوم مشهور دی. بېروني د ریاضي او نجوم ځینې اصلي بحثونه طرحه کړل او د سنسکریت ډېر کتابونه یې په عربي واړول. علاوه له دې لکه څنګه چې سارټن وایي، بېروني په خپلو تالیفاتو او لیکنو کې د یو ځانګړي علمي شجاعت، شعور او حقیقت پلټنې څرګندونه وکړه چې د هغو پېړیو د نورو پوهانو لپاره ډېره ګرانه خبره وه.

اما ابن هیثم (چې په قاهره کې یې رشد وکړ) په نجوم او ریاضیاتو باندې له اشتغاله علاوه د یوه داسې پوه په حیث مشهور دی چې تجربې لېد لري. د سارټن په قول ,, ابن هیثم د منځنیو پېړیو د تجربي روح تر ټولو ښه نماینده دی ،، . او ابن هیثم د کلونو او پېړیو له تېرېدو سره سره (د مناظر او مرایا) د پوهنې ډېر لوی محقق گڼل کېږي . موږ په طبیعي پوهنو کې د هغه اهمیت په ایجاز سره نه شو ذکر کولی او په همدې وجه په دې برخه کې د مقالې لوستونکیو ته د استاد مصطفیٰ نظیف د کتاب (الحسن ابن هیثم : بحوثه و کشوفه البصری) لارښوونه کوو . دلته به دا کافي وي چې د لوېدیځ د منځنیو پېړیو او د رنسانس د زمانې د پوهنیز روش د تفکر په بدلولو کې د ابن هیثم تاثیر (چې په دولسمه میلادي پېړۍ کې په لاتیني ژبه باندې د هغه د آثارو د ژبارې په وسیله خپور شو) ته اشاره وکړو همدا ډول د دولسمې میلادي پېړۍ په پای کې د اکسفورډ پوهنتون له تاسیسه وروسته په نورو پوهنتون کې د ابن هیثم د لیکنو لولونه د طبیعي اوچتو پوهنو په حیث د ابن هیثم د علمي اهمیت څرگندونې ته یوه اشاره ده .

د هغه وخت د نجوم تر ټولو لوی عالم ابن یونس او شاید د اسلامي نړۍ د نجوم تر ټولو لوی پوهاند

په هغه وخت کې له قاهرې راڅرګند شو . هغه د فاطمي خليفه العزيز په زمانه کې په نجومي جدولونو کار پيل او د الحاکم په زمانه کې پای ته ورساوه . دې جدولونو د « د حاکم ستر زيج » په نامه شهرت وموند. ابن يونس د تصور نه پورته دقت په مرسته ځينې فلکي ثوابت اندازه کړل .

خو د دې دوران سلړ نابغه عمرخيام دی چې د هغه د څېړنو او زيارونو له برکته په اسلامي نړۍ کې الجبري مباحث اوج ته ورسېدل . هغه په هندسه، نجوم او الجبر کې د اصيلو تاليفاتو ليکوال دی . داسې مشهوره ده چې « جلالي تقويم » (چې د ملکشاه سلجوقي په وخت کې يې وضع کړ) تر ګرګوارې تقويم (په شپاړسمه ميلادي پېړۍ کې) دقيق دی . خيام په دنيا کې په خپلو فارسي څلوريځو مشهور دی خو حقيقت دا دی چې تر هر څه وړاندې هغه يو رياضي پوهاند دی او وروسته بيا شاعر . ځکه هغه شعرونه د تفريح لپاره ويلي دي . هغه خپل تاليفات د هغه وخت په علمي ژبه يعنې عربي کښلي دي .

د دې مقالې په ابتدا کې مې وکښل چې د اسلامي نړۍ د علم غوړېدنګ او تسلط د يوولسمې ميلادي پېړۍ تر پايه پورې ادامه لرله خو زما د دې خبرې معنی دا نه ده

چې نور نو د اسلامي د نیا پوهنه په ټپه ودریده. ځکه په دولسمه میلادي پیړۍ کې د اسلامي نړۍ په شرق کې د مظفر الفرازي ، بدیع اسطرلابي او عبدالملک شیرازي په څیر ستر پوهان وځلیدل او په غرب کې یې د جابر بن افلح اشبیلي او بطروجي په څیر علمي ستوروپو سر راهسک کړ . د طب په دنیا کې د شرق عدنان العین زربي او اسماعیل جرجاني د غرب له ابن حسدای او ابن زهر سره هم عصر وو .

بغداد د تاسیس له ورځې رانیولې تر خپل سقوطه پورې (په ١٢٥٨م کال کې د هلاکوخان مغول په لاس بغداد تباه شو) له عظمته ډک دوران درلود خو د هلاکو له یرغل سره سره هم د بغداد مدرسه له منځه نه لاړه ، ځکه طوسي خواجه نصیرالدین وکولی شول چې د هلاکوخان مغول د علم او خصوصاً نجوم پوهنې پر گټه پوه کړي. طوسي په مراغه کې رصدخانه جوړه کړه او د څلوروسوو- زرو کتابونو کتابخانه یې ورسره ضمیمه کړه .

په مراغه کې له بیلابیلو سیمو راغلیو پوهانو له طوسي سره کډ کار وکړ . مثلاً مؤید عرضي له دمشقه ، فخر مراغي له موصله ، فخر خلاطي له تفلیسه او محي الدین مغربي له حلبه ورته راغلل .خواجه- نصیرالدین د اولې پایې له څېنو پوهانو سره لکه له

قیصر ابن ابوالقاسم ، ابن اللبودی ، ابن بیطار، ابن بناء او ابن نفیس سره چې کرده د دیارلسمې میلادي پېړۍ کسان دي ، هم عصره وو . څوارلسمې میلادي پېړۍ هم په اسلامي نړۍ کې د ابن خلدون کمال الدین فارسي ، ابن هائم او مادیني په څېر په نړیواله سطحه پوهان لرل چې دلته یې د کارونو ذکر ناشونی دی .

له دولسمې پېړۍ راهیسته په اسلامي نړۍ کې پوهنیز کارونه کم شول او په دیارلسمه پېړۍ کې بالعکس په اروپا کې د پوهنو وده پیل شوه . لکه څنګه چې مسلمانانو له بېلابېلو ژبو د کتابونو د ژباړلو کار ته توجه وکړه، په دولسمه میلادي پېړۍ کې اروپاوالو عربي کتابونه په لاتیني وژباړل . په همدې وخت کې د ارسطو د ځېنو منطقي تالیفاتو نیمګړې ژباړنه له یوناني پر لاتیني وشوه خو له یوناني ژباړنې د هغو په نسبت چې له عربي (وشوې) ژبړې لږې وې . د عربي تالیفاتو د اغېزې څرګندولو لپاره به یو بل مثال راوړو : پالرمي یوحنا په ۱۱۶۰م کال په سیل کې د بطلیموس المجسطي له یوناني په لاتیني وژباړه . په ۱۱۷۵م کال کې جرارد کوموتایي د بطلیموس نوموړی اثر له عربي متنه وژباړه او عجیبه دا ده چې دا غیرمستقیمه

ژبارنه سره له دې چې د اولې هڅې غوښتنې بنسټ نه وه تر اولې ژباړنې معتبره ګڼل کېږي . په اروپا کې له عربي ژبې د ژباړنې غورځنګ دومره اهمیت لري چې د علم د مورخینو په عقیده د رنسانس او د یورپ د پوهنې غورځنګ پېژندنه پرته د ژباړنې د نهضت له ذکره ناممکن دی .



داکتر سید مخدوم رهین

تو ای رود ابه امشب چشم بر ره باش

تقریباً بیست سال تمام هر روز صبح ماما عبدل از کارتهٔ چارکه خانه‌اش در آن جا بود به جادهٔ میوند میرفت. او در جادهٔ میوند کشمیره فروشی میکرد. اول صبح همیشه دکانش خلوت بود اما بعد از ساعت ده کم کم بیروبار میشد. مشتری ها توپ های تکه را سر و زیر میکردند و در آخر یکی از رنگها را انتخاب میکردند و چند متری خریده راه خود رامیگرفتند و میرفتند. ماما عبدل از چانه زدن و جگره کردن بسیار، خوششنمی آمد، اما چاره نبود، بیشتری از مشتری ها در حال بر سر قیمت چانه میزدند: گاهی هم بیشتر از ده توپ تکه را میخواستند و از نزد یک میدیدند و در اخر بی آنکه بخرند میرفتند و ماما عبدل مجبور میشد دوباره توپهای تکه را بپیچاند و بر سر جایشان بگذارد. وقتی دکان از مشتریان خالی میشد شاگردش را می فرستاد و چای میخواست و همچنانکه پیالهٔ چای را آهسته آهسته می نوشید با رضایت و آرامش به توپهای رنگا رنگ تکه که از سه طرف دکان، از روی زمین تا نزدیک سقف را پرکرده برد خیره میشد. توپهای تکه زیر نیون سفید درخشش زیبائی داشت

ماما عبدل از درون دکان به پیاده رو چشم مید وخت وبه آدمهائی که از هر تیپ از آنجا میگذشتند. هنگام پیشین دکان را برای یکساعت می بست و با مامور عبدالغفار که در نزدیکی دکان او پرزه فروشی میکرد به مسجد پل خشتی میرفت ونماز پیشین را میخواند وبر میگشت. ماما عبدل تقریباً شصت سال داشت. جوانی اش را در شهر کهنهٔ کابل گذارنده بود. آن وقت ها هنوز کارتهٔ چارآباد نشده بود. پدرش در شور بازار دکان قنادی داشت. عایشه زنش هم در همسایگی شان زندگی میکرد. او عایشه را پیش از عروسی فقط یک بار برحسب تصادف دیده بود.. ماما عبدل هر وقت از روزگار جوانی و نو جوانی یاد میکرد دلش می شگفت. از باغهای کابل، از تفریح گاه ها و از دامان خواجه صفا خاطره ها داشت. مناظر سبز و خرم کابل آن سالها مانند توپهای رنگین تکه از پیش چشمش میگذشت. بعضی از روز ها که ماما عبدل حال و حوصلهٔ آمدن به دکان نداشت عبدالله بچهٔ کلانش را به دکان میفرستاد. ماما عبدل غیر عبدالله دو اولاد دیگر داشت یکی زهره دخترش که در فاکولتهٔ ساینس بود و دیگر نجیب که با زحمت بسیار توانسته بود لیسهٔ نادریه را تمام کند. زهره دختری سر بزیر و لایق وزحمتکش بود، میان قوم و خویش ها نیز همه جا صحبت از زهره بود که باهمهٔ زیبائی و ملاحت و لیاقت و دانش، بسیار متواضع و با ادب بود، اما نجیب هم تا صنف یازده مکتب بچهٔ خوبی بود، تا زمانی که با بچه- های مستوفی رفت وآمد نداشت خوب بود، پس از آنکه با بچه های مستوفی رفیق شد بسیار تغییر کرد. بچه های مستوفی همگیشان پرچمی

بودند ، در اوایل اشنایئشان با نجیب می امدند ونجیب را که مصروف درس خواندن می بود میگفتند : بیا بیرون بریم ای درس های ارتجاعی به چه درد میخوره که ایقدر میخوانی ؟

آهسته آهسته نجیب به گفت آنها کرد ، دیگر به هفته ها روی کتابهای درسی را باز نمیکرد در مکتب معلمین را اذیت میکرد . یکی دو کتاب ماکسیم گورگی را بچه های مستوفی به او داده بودند که بخواند او از این کتابها چیزی نفهمیده بود اما خجالت میکشید که بگوید چیزی از آنها نفهمیده است . پیشروی پدرش جرات نمیکرد چیزی بگوید امابا زهره از کمونیزم و انقلاب کمونیستی گپ میزد . زهره نصیحتش میکرد و آرام آرام برایش از زندگی ،کار ، پیشرفت و معنویت سخن میگفت امانجیب او را مسخره میکرد و مرتجع می نامید و سخنان کفر آمیز میگفت . یک روز با هم جر وبحث میکردند که ماما عبدل صدایشان را شنید و در آخر صحبت دروازه را باز کرد و سیلی محکمی بر روی نجیب زد ، پس ازآن کوشید که بر عصبانیت خود مسلط شود و گفت :

- دگه نبینم که همراه بچه های مستوفی بگردی . پرچمی های بی پدر آدمی که خدا و رسوله نشناسه از حیوان بدتراس .

نجیب پس از آن روز پنهان از چشم پدر همچنان با بچه های مستوفی میگشت . دیگرانه که هنوز ماما عبدل در دکان می بود بچه های مستوفی می آمدند و نجیب را با خود می بردند . وتا شام گاوگم لب دریا قدم می زدند . بعضی روز ها هم نزدیک پل سرخ به خانهٔ یک پرچمی دیگر میرفتند . او یک مستری بود اما بچه های مستوفی او را انجینیر صاحب مگفتند و ازش

تعریف میکردند.

هنگام غروب که خورشید فضای فقرخیز وگرد آلود قلعهٔ شهاده راترک میگفت مستری‌کریم با بچه های مستوفی و نجیب در کنار پل سرخ ایستاده می شد و یا بر لب دیوار کنار دریا می نشت و با دیدن منظرهٔ مستمندا که آرام وغمگین از کار روزانه به طرف خانه ر میگشتند، از فقر و- سرمایه داری و استثمار سخن ها میگفت. این سخنها به دل نجیب می نشست و در آخر نتیجه گیری میشد که گناه همهٔ اینها به دوش امپریالیزم است. نجیب چند اصطلاح و کلمهٔ خارجی هم ازمستری کریم یاد گرفته بود مانند بورژوا، کمپرادور و امثال آن و هروقت که آنها را بر زبان می آورد شدیداً احساس روشنفکری میکرد.

ماما عبدل از جزئیات روابط نجیب با رفقایش خبر نداشت، امامیدانست که بچه های مستوفی نجیب را بیراه کرده اند. هر وقت با نجیب گپ میزد و- نصیحتش میکرد نجیب سرش را خم می انداخت و ساکت می ماند اما وقتی تنها میشد گفته های مستری کریم یادش می آمد و افکار پدرش به نظرش پوسیده وفرتوت میرسید. یک روز بعد از کودتای هفت ثور بود که نجیب در- صحبت با پدرش دیگر سرش را خم نینداخت و با زبان روان وجملات قالبی از پیروزی انقلاب و شکست ارتجاع گپ زد. ماماعبدل به کافران لعنت فرستاد وبرای مسلمانان دعای خیرکرد، امانجیب که کم کم دربرابر پدر گستاخ شده بود به صراحت از کمونیزم طرفداری کرد.

ماما عبدل طاقت نیاورد و باز سیلی محکمی بر روی او زد. نجیب- دو سه شبی به خانه نیامدو پس از دو سه روز که به خانه آمدمستقیماً

به اطاق زهره رفت :

- زهره مه آمرمکتب مقرر شدیم.

زهره با تعجب و نا باوری به او دید وگفت :

- خوب شد مبارک باشه.

- راستی‌که انقلاب نتایج مهم داره.

- کدام انقلاب ؟

- انقلاب ثور دگه.

- ای خو انقلاب نبود کو دتا بود ، کودتای وطن فروشا.

- زهره تو‌نمی فامی که چه میگی.

- تو خوب می فامی !

- البته که میفامم. انقلاب دموکراتیک و مردمی پیروز شد. ارتجاع و امپریالیزم سرکوب شد.

- مقصدت کودتای چند نفر دزد و آدمکش اس ؟

- زهره مزخرف نگو حق مردم به مردم رسید. حالی قدرت به‌دست خلق اس و در هرکار حق به حقدار میرسه.

زهره در حالی کم تبسم ملیحی کرد ، گفت :

- همو قسم که آمریت مکتب به تو رسید

- خوب شد که رسید. مه مترقی هستم ، مبارزه کدیم ، حق داریم.

- راست میگی وقتی که تره کی و ببرک به ریاست جمهور و معاونی ریاست جمهور برسن تو باید آمر مکتب شوی.

- زهره ! راپور ته میتم.

- بروبته ،هردو وظیفه' نوت مبارک باشه .

- کدام دو وظیفه ؟

- آمریت مکتب ومخبری .

ازین تاریخ دیگر که نجیب با زهره گپ نمی زد . هر وقت خانه می‌آمد بچه های مستوفی را هم باخود می آورد . بچه های مستوفی موتر دار شده بودند . شبها نجیب یا دیر به خانه می آمد یا اصلاً نمی آمد .

ماما عبدل کم کم از دست زمانه به تنگ آمده بود . در کاروکسب هم خیرو برکت نمانده بود از دست نجیب هم جگرش خون بود . بارها خواسته بود او را عاق کند اما باز به خاطر مادرش رعایت کرده بود .

چند ماه از کودتای ثور نگذشته بود که یک روز باز نجیب به خانه آمد و راست به اتاق زهره رفت .

- زهره ای بیشرف ها مزدور امپریالیزم هستن .

- کدام بیشرف ها ؟

- دار و دسته' تره کی و امین . بیشرف ها رفقای ماره می کوبن پرچمی ها ره می کوبن .

- چرا می کوبن

- می کوبن دگه . رفقای ما مثل اونا مزدور نیستن .

- پس چه هستن ؟

- باز شروع کدی !

از آن پس نجیب مثل موش مرده شد زیاد کوشش میکرد که در خانه باشد و جائی . بچه های مستوفی یکبشان بندی بود ، دیگریش

هم زیاد رفت و امد نمیکردند. ماما عبدل گاه وبیگاه نجیب را میخواست-
و از مفاسد خلق وپرچم با او گپ می زد ، میگفت : سگ ازی بیدین های
وطنفروش بهتر اس . گم میشن انشاء الله گم میشن.

نجیب چیزی نمی گفت و خاموش می ماند . گاه گاهی از امین و
تره کی بد میگفت و میخواست غیر مستقیم از پرچمی ها طرفداری کند.
ولی ماما عبدل بالحن قاطع میگفت: سگ زرد برادر شغال است .

در یکی از شبهای سیاه و سرد زمستان بود که ناگهان شلیک -
توپها و تانگ ها فضا را شگافت . مدتی بود که مردم با این صداها عادت کرده بودند
خلقی ها میگفتند سرنگ پرانی است . مردم هیچ نمی گفتند ، اما میدانستند که
سرنگ پرانی نیست و در دل میگفتند آنچه میگفتند . آن شب شبی پر هراس
بود اگرچه مدتی بود که هر شب پر هراس بود . جاده ها خالی و یخ زده
بود . در خانه ها مردم دورا دور رادیو نشسته بودند تا ببینند چه رخ داده
است .

فردای آن شب خورشید با شرمندگی بر کوی و بر زن میتابید . جاده
های اصلی شهر قیافهٔ بیگانگان تازه وارد راکه بانگاه های ابلهانه به هر
سو خیره شده بودند به سختی تحمل میکرد .

دیگر بروت خلقی ها لم شده بود . این بار پرچمی ها بودند که به
قرتک افتاده بودند . دیگر هربار که از دور دست ها صدای شلیک ها به
گوش میرسید پرچمی ها میگفتند سرنگ پرانی است . مردم باز هم هیچ -
نمیگفتند و میدانستند که سرنگ پرانی نیست و فقط در دل میگفتند آنچه
می گفتند .

نجیب باز دل و گرده پیدا کرده بود. باز از انقلاب گپ می زد. وقتی زهره از وضع نابسامان پوهنتون شکایت میکرد، نجیب بین گپ او دوید و گفت: خوب میشه، در مرحلهٔ تکاملی انقلاب همه چیز بهتر خواهد شد.

زهره با اوقات تلخی گفت: کدام انقلاب؟ کدام مرحلهٔ تکاملی؟! خاک به سرای مزدورای وطنفروش. اینا غیر خیانت و آدمکشی چه می کنن؟

- زهره چتی نگو. آدمکشی کار باند امین بود. در مرحلهٔ تکاملی انقلاب قدرت به دست زحمتکشان است.

- باند امین و ببرک چه فرق داره؟ هم امین وطنفروش بود و هم ببرک وطنفروش اس.

- تو مثل آدمای مرتجع گپ می زنی.

- مقصدت از مرتجع چیس؟ مه میگم ببرک مثل امین و تره کی - مزدور و وطنفروش اس. پرچمی ها مثل خلقی ها بیدین و دشمن مردم ماستن.

- تو زیر تأثیر افکار پوچ هستی.

- هرکسی که وطنفروش و کافر نبود به نظر شما زیر تأثیر افکار پوچ اس.

در اتاق پهلوئی ماما عبدل روی جای نماز نشسته بود و وظیفه میکرد صدای جر و بحث نجیب و زهره به گوشش می آمد. ماما عبدل حیران مانده بود که با نجیب چه کند. صد بار لت و کوبش کرد هیچ فایده نداشت. با نصیحت و زبان خوش با او گپ زد باز هم تأثیر نکرد. اگر از خانه-

بکشیش دگه ، شکل ، آهسته زیر زبان گفت : خدا جوانمرگش کنه .

در دکان مشتری های تازه ای برای خرید تکهٔ دریشی پیش ماماعبدل می آمدند . ماما عبد ل از لحن گفتار آنها حدس زده بود که پرچمی هستن . هیچکدام ازین مشتری ها قبلاً از وچیزی نخریده بودند ، اما ـ حالا تقریباً هر روز چند نفری از آنها برای خرید ن تکهٔ دریشی می آمدند: وقتی درین باره با مامور عبدالغفار یاد کرد ، مامور با لحن نفرت آلود گفت : پول ، پول و طنفروشی اس . و طنه فروختن و پولدار شدن جالی اینا کشمیرهٔ درجه یک نپوشن که بپوشه ؟

روزهای آخر زمستان به کندی میگذشت . روز های ملال آور و درد آلود زمستان کابل انتظار بهار بی آب و رنگی را میکشید. بهاری که هیچکس آمدنش رابه فال نیک نمیگرفت . زهره روز ها کتاب به دست پشت میز کوچک کارش که در کنار پنجرهٔ مشرف بر کوچه بود می نشست و کتاب میخواند اما به سختی میتوانست فکرش را روی مطالب کتاب متمرکز کند ، منظرهٔ تانک ها و زرهپوشهائی که گاهی به طور دنباله دار و زنجیری از کوچه میگذشت غمگین وعصبانی اش میساخت . نگاه کنجکاو وبیحیای سرنشینان نفربرهای زرهی از عصبانیت دیوانه اش میکرد . به یاد نجیبه دوستش می افتاد که هر وقت در طول راه این چشمهای کبود و ـ بیحیارا به طرف خود خیره می دید ، بر زمین تف می انداخت .

درین او اخر تقریباً هر روز عصر چند نفر از دختران که دوستان زهره بودند به دید نش می آمدند . نجیبه یکی از آن ها بود . زهره نجیبه را بیشتر از دیگران دوست داشت . چشمان زیرک و شوخ وطنز آلود او در

اولین نگاه به بیننده می فهماند که در مسخره کردن و اذیت کردن چه توانائی دارد. در فاکولته همصنفی های پرچمی اش از دستش روز نداشتند. او همیشه با شوخی میگفت: خلقی ها به تاریخ خیانت کردند و پرچمی ها به جغرافیا. به خلقی ها میگفت: چرا آرام شیشتین؟ خلقی که از پرچمی پس بانه بینیش از بریدن است. میگفت: خلقی وپرچمی مثل دو انباق هستن که هر دویشان کوشش میکنن دل شویه به دست بیارن اما فعلاً خلقی ها زن سیاه بخت و پرچمی ها زن سفید بخت هستن. نجیبه از بسکه مسخرگی میکرد خلقی و پرچمی هر دو او را معاف میدانستند.

زهره در اتاق کوچکش با دوستان خود بر روی زمین می نشست. دروازه را از درون اتاق قلف میکرد و آن وقت تعدادی اوراق سفید با خودکار و کاغذ کاربن به دوستان خود توزیع میکرد و از روی ورقی که پیشتر خودش مینوشت مطالبی قرائت میکرد و دیگران می نوشتند. گاهی وقت خواندن زهره را گریه میگرفت و دانه های اشک مانند مروارید غلطان از چشمان جذاب او چکیدن میگرفت. نگاه غمگین چند دختر جوان یکباره با هم تلافی میکرد و دوباره کار خود را از سر میگرفتند وپیش از آنکه هوا تاریک شود هرکدام به تنهائی از دیگران خدا حافظی کرده جدا جدا میرفتند.

یک روز نجیبه با خوشحالی به زهره گفت: میدانی شبنامهٔ اخرماره به خانهٔ خود ما هم انداخته بودند. خط فرق داشت ولی عبارت همو عبارت بود. زهره با دقت پرسید: چه فکرمیکنی کی ای کاره کده.

- نمیدانم فکر میکنم شبنامهٔ ما به دست کسی رسیده و او از رویش نوشته و به دیگر ها داده. خط مردانه بود. راستی امروز دوستای ما می آین؟

- البته که می آین، حتماً می آین.

- مه بیست نفر از دخترای رابعهٔ بلخی ره دیدم، گپ زدم همگیشا از ماکده اما ده تراستن.

- همه دخترای کابل همیطور استن، همه دخترای وطن همیطور استن.

- ما انسجام نداریم.

- باید انسجام پیدا کنیم.

- شرایط بسیار سخت اس. پرچمی ها هر جای مخبر دارن.

- میدانم اما به قیمت فدا کاری هر کار ممکن اس.

تا ساعت سه ونیم دوستان زهره در اتاق کوچک اونشسته بودند. نجیبه قصه میکرد که نگران سرویس چگونه پس از گذشتن سرویس از پهلوی تانکها به صدای بلند چه گپ های خنده داری زده بود وهمهٔ راکبین را خنده داده بود. در سرویس سه نفر صاحب منصب هم نشسته بودند. دو نفر آنها مثل دیگران خنده میکردند. اما یک نفر آنها در آخر سرویس نشسته بود با لحن آمرانه صدا زد.

- چپ باشین برادر قوای دوست برای کمک به ما وشما آمده.

همه به سیت عقب موتر خیره شدند. یک نفر صدا زد:

- راست میگه، ضابط صاحب راست میگه اونا آمدن که به بچه -

اندرای خود کمک کنن.

باز موج خنده به هوا بلند شد. صاحب منصب ایستاده شد و-میخواست چیزی بگویه، اما از هر طرف صدا بلند شد:

- بشی بشی وطنفروش بشی.

- از شوی ننهٔ خود طرفداری می کنه.

- می خایه دو رتبه بگیره.

- از پنجاه روپیگی سبز خوشش آمده.

- نان بیغیرتی می خوره.

- صدقهٔ نام منصبدارشوین.

یک زن از زیر چادری صدا زد: بی ناموس ها، ناموس مسلمانه به چنگ کافر انداختن.

در همین لحظه موتر به ایستگاه سینمای پامیر رسید. دم یک قصابی که گوشت گاو فروخته میشد، روی کراچی دو گاو ذبح شده را انداخته بودند. یک مردکهٔ ریش سفید که دندان های پیشرویش افتاده برد با دیدن آن از پشت شیشهٔ موتر، صدا زد.

- گاو مرده از مرده گاو بهتر اس.

صاحب منصب سرخ شده و عرق کرده بود، نگاهی به طرف دو-صاحب منصب دیگر انداخت اما آن دو نفر با نگاه های سرد و بی تفاوت اورا ور انداز کرده روی خود را دور دادند. منصبدار دیگر تاب-نیاورد و از جای خود بلند شده در ایستگاه سینمای پامیر به سرعت پائین شد.

نجیبه با رشخندی گفت : ارمان دلم ماند و هیچ نگفتمش دگه ما به مه موقع ندادن .

آن روز بان زهره و دوستانش چیز های نوشتند و برای پس فردا - اول صبح باهم قول و قرار های گذاشتند .

صبحگاه سوم حوت ۱۳۵۸ بود. از آغاز صبح کوچه ها همه خلوت به نظرمیرسید . دکانها و مغازه ها همه بسته بود . ماما عبدل از اول صبح در خانه نشست و نخواست به دکان برود . گفته بودند که به علامت اعتصاب بر ضد حکومت دست نشانده و تجاوز با دارانشان درین روز دکانها و - مغازه ها بسته باشد .

عبدالله بچه کلان ماما عبدل هم درخانه بود ، عبدالله تقریباً تیپ پدر خود را داشت . مرد با عقیده ای بود . نمازش راهمیشه به جماعت میخواند؛ آدم بی آزار وکم گپ و غریب کار بود . از کارهای نجیب بدش می آمد ، اما چنان سرش به کار خودش بود که اصلاً به نجیب فکر هم نمیکرد، یکبار نجیب اورا درغیاب خرده بورژوا گفته بود ، ولی عبدالله هیچگونه عکس- العملی نشان نداده بود.

پس از مدت درازی ماماعبدل فهمیده بود که عبدالله به جبههٔ پنجشیر کمک پولی میکند . آن روزی بود که ماما عبدل پسرش را دیده بود که در جوش زمستان یک بغل دستکش پشمی را از بازار خریده و در یک چادر شب پیچانده و در کنج دکان گذاشته است وچون ماما عبدل ازو درین باره پرسیده بود ، جواب داده بود که ای دستکش ها برای دست- مرد هائی اس که به خاطرخدا و وطن از جان دست ششتن . ماما عبدل -

بروتی خوش قدو بالا از کنار آنان گذشت و با غرور به آنها نگاه کرد .
نجیبه خیز زد و به سرعت برق چادر خود را روی سر او انداخته بلند
صدا زد : چادر برای کسی اس که مرد نیس . دخترا همه کف زدند و بر
هیجان آنان افزوده شد.

چند دقیقه بعد شلیک ها تندتر شد. چند تن از دختران زخمی شدند
یک عده پولیس نما هم با چوب به جان دختر ها افتادند . چند نفر شان
را به داخل موتر ها انداختند ، بقیه پراگنده شدند . زهره چنان ضربت
چوب به شانه اش خورد که چشمش از درد سیاهی رفت . اما پس ازانکه
دید پیشانی نجیبه ترکیده و خون از آن جاری است ، درد خود را فراموش
کرد و با زحمت توانست چادر خود را دور پیشانی نجیبه بسته کند . پس-
از آنکه دختران تعدادی کشته وتعدادی زخمی شدند وعدهٔ زیادی هم-
دستگیر، بقیه ناچار پراگنده شدند. زهره در کنار نجیبه به طرف خانه به
راه افتاد. در راه هر دو ساکت بودند و به شدت درد میکشیدند . یک-
موتر جیپ که به سرعت حرکت میکرد ، پهلوی آنان برک زد . چار نفر درون
موتر نشسته بودند. یک نفر جوان که معلوم بود مست است سرش را ازموتر
بیرون کشید و با تمسخر گفت :

- دخترکا شمام اشرار شدین ؟

زهره با صدائی که به چیغ گریه آلود شبیه بود ، جواب داد :

- اشرار شما بی پدر ومادر استین که وطنه فروختین.

موتر جیپ غرش کنان به راه افتاد . زهره ونجیبه ساکت و آرام قدم-
بر میداشتند . نجیبه احساس گیجی میکرد . سرش دور میخورد و هردقیقه

دیگر چیزی نپرسیده بود اما میدانست که عبدالله با آن کم گپی و آرامش در درون خود طوفان و تلاطم دارد و از اوضاع مصیبت بار موجود رنج میبرد.

ساعت هشت صبح بود که عبدالله پیش پدرش آمد وگفت :

ـ امروز مغازه بسته اس ، مه یکبار تا خانهٔ عمه ماه گل میرم .

ماما عبدل سرش را بلند کرد و گفت : چرا ایقدر وقت میری ؟ از کلهٔ صبح !

عبدالله زیر زبان خود منگ منگ کرده خدا حافظی نمود و از خانه برامد .

در راه نجیب را دید که با بچهٔ مستوفی مثل سگهای دید و درکوچه راه میروند و به هرطرف می بینند .

زهره هم از اول صبح خانه را ترک گفت ؛ پدرش با دیدن اوگفت : کجا میری دخترم بهتر اس که امروز ده خانه باشی .

زهره با خوشروئی و احترام جواب داد : نجیبه و دگه دخترا منتظرم هستن ، اگه درس نبود زود خانه می آیم .

یک ساعت از رفتن زهره نگذشته بود که صدای شلیک به هوا بلند شد . مردم هرطرف میدویدند و شعار میدادند . تانک ها در دل جاده ها می خزیدند . بوی اختناق و استبداد همه جا را گرفته بود . در دل جاده ها زهره با انبوه دختران در فاصلهٔ بین پوهنتون و مکتب رابعهٔ بلخی در وسط جاده حرکت میکرد . همه الله اکبر میگفتند و شعار میدادند . موترهای استخبارات و امنیه هرطرف دیده میشد . عدهٔ زیادی با لباس نظامی وغیر نظامی دیده میشدند که آمادهٔ حمله به جمعیت بودند . وقتی یک منصبدار

پیش چشمش سیاه میشد . زهره کمکش میکرد و بازویش را میگرفت تا اینکه به خانهٔ نجیبه رسیدند . ازین جا تا خانهٔ زهرهٔ شان با پای پیاده نیم ساعت راه بود و زهره مجبور بود این راه را پیاده طی کند . جاده ها از عابرین خالی شده بود و سر چار راهی ها یک عده افراد با لباس نظامی در کنار تانکها ایستاده بودند . موترهای جیپ و زرهپوش ها در رفت و آمد بردند . زهره سرش راخم انداخته بود و راهی خانه بود . باز هم همان جیپ از پشت سر آمد و برای اینکه زهره را بترساند با صدای گوشخراش در فاصلهٔ بسیار نزدیک ازو برک زد ، همان جوانک که پستی از قیافه اش می بارید بازسرش را از پنجره بیرون کشید :

ـ ضد انقلاب کجامیری ؟ بیا که برسانمیت .

زهره به او نگاه هم نکرد و همچنان به راهش ادامه داد تا رسیدن به کوچه ای که خانهٔ زهره در انتهای آن بود ، این جیپ چندین بار مزاحم زهره شد و همان جوانک چندین بار سر از پنجره موتر بیرون کرد و سخنان نیشدار و طعنه آلود بر زبان آورد . زهره میکوشید که هیچ نگوید و به رو بروی خود نگاه میکرد و فقط زمانی که در آخرین توقف جیپ پیشروی او کلمات رکیک و دور از عفت به او گفته شد و موتر به سرعت گذشت ، زهره همچنان که به روبروی خود نگاه میکرد ، دانه های اشک ازچشمانش بر رخساره اش لغزید . تا این لحظه از درد شانه و بازو گریه نکرده بود ، اما در یک لحظه سرا پایش به درد آمد ، احساس میکرد که درد همهٔ دخترانی که در مظاهره لت خورده و زخمی شده بودند به جان او افتاده است . اینا چقدر نامرد هستن ، مزدورای پست !

در انتهای جاده ای که به طرف خانهٔ شان دور میخورد چشم چشم زهره از دور به یک تکسی افتاد که دم دروازهٔ حویلی شان ایستاده بود. زهره از پهلوی مامور عبدالغفار و یک نفر دیگر که نا آشنا بود گذشت و وارد حویلی شد. در صحن حویلی صدای گریهٔ مادرش را شنید دلش به لرزه افتاد و قدمهای خود را تیز تر کرد.

در وسط دهلیز روی توشک عبدالله با تن خون آلود افتاده بود و مادرش با موهای خاک آلود و پریشان در کنار او نشسته بود و گریه میکرد.

زهره با دیدن عبدالله چیغ زد و بر روی برادر خم شد. پس از ان دست به گردن مادر انداخت و چیغ زد.

- چه شده مادر؟

- کشتنش، بیشرفا کشتنش. شیرین دل خوده گور کنن، کشتنش.

گریه نگذاشت که سخنش تمام شود. عبدالله را در سر چوک زده بودند یک هلیکوپتر از بالای سر جمعیتی که الله اکبر گویان از سینمای پامیر تا سر چوک راه پیمائی کرده بودند شلیک کرده و چند نفر را از پا درآورده بود. مامور عبدالغفار و یکی از دوستانش توانسته بودند عبدالله را روی دست و شانه به یکی از پسکوچه های جادهٔ میوند ببرند. از آن جا با هزار زحمت تکسی پیدا کرده او را به شفاخانهٔ چارصدبستر بردند. در آنجا هم تعداد زخمی ها زیاد بود و کس به کس نمی رسید و عبدالله آنقدر خون ریزی کرد تا جان داد. یک نفر که تفنگچه به کمر بسته بود و بسیار بالا و پائین می رفت و به همه کس امر و نهی

میکرد ، ماموں عبدالغفار را پیش خواست و گفت :

ـ شما برین جنازه ره ما خود ما دفن میکنیم .

ماموں عبدالغفار که فکر نمیکرد عبدالله مرده باشد ، تکان خورد و پرسید :

ـ داکترا کجا هستن؟ ای چه قسم شفاخانه اس؟

ـ داکترا ره چه میکنی؟ نفرتان فوت کده ما تر تیب د فنشه می تیم .

پیشانی ماموں عبدالغفار عرق کرد و حلقش خشک شد با درماندگی، باغصه و با عصبانیت عذر آمیز ، گفت :

ـ چرا جناز یشه نمیتین . جواب مادر و پدر پیرشه چه بتم ؟

در برابر اصرار فراوان ماموں عبدالغفار مردک حاضر شدکه جنازه را مسترد کند . اما بالحن تهدید آمیز گفت : اعلان رادیو و سروصدا راه انداختن لازم نیست .

فضای غمزدهٔ خانهٔ ماما عبدل به گورستان می ماند . قامت پیر مرد از غم و غصهٔ بسیار خمیده بود با آنهم آرام وخونسرد به نظر میرسید و در برابر همدردی دوستان و خویشاوندان بالحن دردناکی میگفت: به رضای خدا رفت . شهید راه اسلام و وطن شد .

زهره تصویری راکه با برادر شهیدش سال ها پیش ازین گرفته بود روی میز کارش گذاشته بود و هر وقت به آن خیره میشد . به قیافهٔ خودش که در آن وقت دخترک خرد سال بود و به قیافهٔ عبدالله که باچشمان پر محبت به خواهرش میدید ، گلویش میگرفت و میگفت :

- قبرت پرنور باد برادر، قبرت پرنور باد مجاهد. راه تو پر افتخارترین راه هاست.

در همان روزها یک روز باز دوستان زهره در اتاقش نشسته بودند و مینوشتند. زهره مرثیه ای در سوگ یکی از دختران شهید قیام سوم حوت گفته بود، دختران مینوشتند وگریه میکردند.

چراغان کواکب بر فراز چرخ مینائی.
خبر از بزم پاکان فلک دارد.
تو ای رودابه امشب چشم بر ره باش.
که دخت رستم دستان،
به خون آغشته از بیدادنامردان تورانی.
به سویت راه می پوید
ترا در آسـمان جوید

نجیب شبها دیر می آمد، در شب جمعگی اول عبدالله که تعدادی سرسفید و ریش سفید به خانهٔ ماما عبدل آمده بودند، نجیب فقط - چند دقیقه با مهمانان نشست و بعد از آن از خانه برآمد. ساعت ۹ بود که به خانه برگشت. به اتاق زهره آمد وگفت: امروز خانهٔ - همسایه پشت سرخانهٔ ماره تلاشی کدن. از خانهٔ شان اوراق ضد انقلاب برآمد. زهره با تنفر به طرفش دید وگفت:

—هیچ آدم شریف نیست که ضد به اصطلاح انقلاب وطنفروش ها نباشه.

نجیب با طعنه گفت: وگیر می آین یا کشته میشن

زهره نگاه عذر خواهانه ای به طرف عکس عبدالله انداخت ودرحالی

که گریه اش گرفته بود ، ایستاده شد و به طرف دروازهٔ اتاق رفت و دروازه را باز کرده با صدای گریه آلود گفت :

- برو نجیب از اتاق مه برو ، طاقت دیدنته ندارم . تو آدم نیستی، تو انسان نیستی.

نجیب با قیافهٔ متمسخر آلود طرف دروازه رفت و پیش از آنکه از اتاق برآید پرسید :

- راستی نجیبه چطوراس ؟ میگن روز سه حوت از صبح تا دیگر شعار داد . رفقا هم مجبور شدن و با چوب حقشه دادن .

زهره از عصبانیت به لرزه افتاد . مستقیم به طرف نجیب پیش-رفت و سیلی محکمی به روی او زد .

- پست بیشرف گفتم از اتاق مه برآی .

نجیب که یک بغل رویش سرخ شده بود ، در حالی که از اتاق-بیرون میرفت ، گفت :

- می بینی باز ، مره مجبور ساختی . تو فکر میکنی مه خبر ندارم-که تو و نجیبهٔ شان شبنامه پخش میکنن !

آن شب نجیب خانه نامد. زهره خسته و افسرده بود. شب چند ساعتی با مادرش نشست . پیرزن لباس های عبدالله را از الماری کشیده بود تا روز دیگر آنها را به فقرا ببخشد . اشک آرام آرام از دیدگانش روی گونه های استخوانی و پرچینش سرازیر میشد. زهره میخواست از موضوعاتی گپ بزند که مادرش لحظه ای مرگ عبدالله را فراموش کند ، اما مؤفق نمی شد .

سپیده دم هنوز هوا تاریک بود که زنگ خانه چند بار با صدای گوشخراش به صدا درآمد. ماما عبدل سراسیمه به طرف دروازه رفت. شش نفر مرد مسلح دم دروازه بودند، گفتند که برای تلاشی خانه آمده اند. ماما عبدل با عصبانیت دروازهٔ حویلی را باز کرد وگفت: بیائین تلاشی کنین، تانک و توپ و بم اتوم ده خانه ماس.

سه نفر روی حویلی ایستادند، یک نفر در دهلیز به حالت پهره ایستاده شد و دو نفر راساً به اتاق زهره درآمدند.

زهره با چشمهای سرخ در حالی که شقیقه هایش درد میکرد، ساکت در وسط اتاق ایستاده بود. آن دو نفر همه جای اتاق رازیر و روی کردند هر ورق پاره ای را به دقت میدیدند و به طرف همدیگر نگاه میکردند. ودر آخر تعداد زیادی اوراق خورد وبزرگ را با خود گرفتند. یکی ازآن دو نفر به طرف زهره دید و گفت: شما هم باید همراه ما بیائین.

مادر زهره گریه و التماس میکرد اما زهره بالحن قاطع به وی گفت:

ـ مادر گریه نکنین، اینا از خود اختیار ندارن، کلان هایشا نام از خود اختیار ندارن.

زهره را مدتی در حبسخانه های صدارت نگهداشتند. دراوایل کالای پاک او را میگرفتند و لباس های قبلی را مسترد میکردند، اما پس از چندی که او را به پلچرخی فرستادند دیگر خبری از او نشد. ماما عبدل تا امکان داشت تلاش کرد، واسطه هم کرد اما فایده نداشت.

پس از شش ماه که از توقیف زهره گذشته بود یکی از دختران لیسه' زرغونه که تازه از زندان برآمده بود ، میگفت که زهره را در زندان دیده بود . میگفت که چند شب پیهم او را برای شکنجه کردن میبردند و سحرگاه او را به اتاقش برمیگرداندند . زهره ضعیف و رنگ پریده به نظر میرسید . اما هنوز هم شجاع و با ایمان بود تا در یکی از شبها که او را برای شکنجه بردند و بعد ازان دیگر کسی اورا ندید .

زاندم که بیامدیم در ملک وجود
بر درگه تو نهاده سر را به سجود
تو خالق عالمی و ما بنده تو
ممنون ز الطاف تو هر بود و نبود

موسیٰ محمد

پر جهادي لنډيو څو خبرې

په نورو ژبو کې فولکلوريک ادب ته عموماً د يوه انجام شوي او پخواني کار په سترګه کتل کېږي او دا روحيه دوه اصلي وجې لري : يو دا چې د تمدن پرمختګ او تعميم په ډېرېدونکې توګه کتبي ادب ته وده او پراختيا ورکوي او ـ د شفاهي ادب ځای پرې نيسي او بله دا چې په نوې ټولنه کې د شفاهي ادب ډېر موضوعات کم اهميته او حتیٰ بې اهميته کېږي. فولکلوريک ادب عموماً د يوه ملت د بدوي ژوندانه موضوعات په داسې ژبه بيانوي چې په هغې کې د پرديو ژبو او فرهنګونو اغېزه ډېره لږه وي . حال دا چې نوی تمدن نوې ټولنې ته نوي موضوعات ورکوي او ژبه هم د کهنو فرهنګونو او د لوست د عموميت تر اغېزې لاندې له خپل عاميانه حالته لرې او خپل کتبي حالت ته ورنږدې کېږي .

مګر د ذکر شوي عمومي جريان بالعکس په پښتو ادب کې

لا فولکلوريک ادب کم اهميته شوی نه دی . د دې يو علت خو دا دی چې زمونږ په ټولنه کې لا نوي تمدن د ېرې جرړې نه دي غزولې او بله دا چې پښتو فولکلور د شکل او محتوی په لحاظ خورا بډای او وسيع دی . زمونږ د فولکلور په بېلابېلو اصنافو کې له ډېره پخوا لا سياسي ، اجتماعي او هڅونې بېلابېل ګڼ موضوعات بيان شوي دي .

په تېرلسمه پېړۍ کې يوه مستشرق ويلي وو چې پښتانه ورځپاڼې نه لري خو چاربيتې د دوی د پاره د ورځپاڼو کار هم ورکوي . دا خبره زمونږ د فولکلور د موضوعي وسعت او په نتيجه کې د نويو نويو پېښو په انعکاس کې د هغه د استعداد شاهده ده .

زمونږ فولکلوريک ادب خپل اهميت د جهادي ادب په مجموعه کې هم خوندي ساتلی دی چې په دې ليکنه کې يې مونږ صرف د لنډيو په باب څه خبرې کوو .

لنډۍ لکه څنګه چې زمونږ په ټول ادب کې خاص مقام لري نن ورځ په جهادي ادب کې هم لويه برخه لري . لکه څنګه چې زمونږ مسلمانو خلکو په تېره پېړۍ کې د انګرېزانو د استعمار په خلاف د لنډۍ په ژبه ډېر څه ووېل ، نن ورځ دا ژبه د مجاهد له ټوپک سره غږ پر څنګ د دښمن په زړه منګولې ښخوي .

د جهادي لنډيو ويونکي اکثراً د پخوا غوندې عوام

خلک او ښځمني دي خو لکه څنګه چې به پخوا ځينو ادیبانو په خپله لنډۍ جوړولې ، نن ورځ هم زموږ مجاهدو ادیبانو د عوامو په تقلید او د عوامو لپاره جهادي لنډۍ وويلې . يو نيم ځای په دې موضوع تنقید هم کېږي چې زموږ ادیبان باید لنډۍ دا د عوامو د بیان وسیله هم هغوی ته ورپرېږدي خو دا خبره څکه سمه نه ده چې يو خو دا کار سابقه لري (۱) او بله دا چې مجاهد ادیب متعهد ادیب دی ، هغه همېشه په دې فکر کې دی چې په خورا اغېزناک ډول سره خپل پیغام خلکو ته ورسوي . هغه د دې مرام لپاره باید چې له ټولو ممکنو طریقو استفاده وکړي او په داسې حال کې چې لنډۍ يوه بهترینه وسیله ده نو ولې دې ورته توجه ونه کړي .

د جهادي لنډيو د ويونکو د دې طبقو ترمنځ يوه بله طبقه هم وينو چې نه د هغو پېشه شاعري ده او نه د سواد په لحاظ په لوستې طبقه کې حسابېدلی شي . دوی عموماً نيم

(۱) د مثال د پاره به د اسلامي نهضت د قاید سید جمال الدین افغاني لنډۍ راوړو چې له وطنه یې د وتلو په وخت کې ویلې وه .

که مې په خپل یار کې وفا وای

زه به د بل په دړ کې څه ته ګرځېدمه

نيمګړې يا مات ګوډ سواد لري او چې کله يې د دښمن ظلمونه او د مجاهد مېړانه زړه په جوش راولي نو شاعرانه حالت پرې طاري شي او د خپل زړه غم او خوشالي د کاغذ پر مخ د لنډيو په بڼه ثبت کړي . د دې طبقې څېنې لنډۍ په مجلو، اخبارونو او کستونو کې خوندي شوي هم دي ، په دوی کې اکثره مجاهدين دي او ډېره څله د دوی له خوا د ويل شويو لنډيو کاغذ د دوی په پاکو وينو لوند شوی دی . د لنډۍ د ويونکو دا ورروستۍ ډله ځوا هم وه خو تقريباً په نشت شمار وو ، مګر د نني جهاد په دوران کې يې مشخص مقام موندلی دی .

جهادي لنډۍ لکه څنګه چې د ويونکيو په لحاظ متنوع دي ، د موضوعاتو په لحاظ يې په مختلفو ډولـونو وېشلی شو .

که چېرته موږ جهادي ادب په خاص او عام مفهوم ووېشو او په عام مفهوم کې يې ټول هغه تخليق شوی ادب شامل کړو چې د روسي ظلم د اغېزې په نتيجه کې رامنځ ته شوی دی نو د جهادي ادب د لنډيو اصلي موضوعات په دې ډول شمېرلی شو :

١- هغه لنډۍ چې د خپلوانو ، اشنايانو او د سنګر د ملګريو د شهادت او يا هم د سيمو او کليو د تباهۍ په مناسبت ويل شوي دي . لکه دا لنډۍ :

د پکتیا ښکلي ځنګلونه
نن پکې بل دي د روسانو سره اورونـــه
ملیه ترلي ورور مې ورک دی
ملیه ترلي ځوانان وکسم وژاړمــــه

۲ـ هغه لنډۍ چې پر بریالیتوب باور یې اصلي موضوع ده . په دې لنډیو کې چې ممکن اکثره ویونکي یې هم په خپله مجاهدین وي، یو ډول امید، په ځان باور او اطمینان وینو. لکه دا لنډۍ :

وطن کټملی رانه نه شي
روسیه! ولې ورانوې و دان کورونه
پرېږدئ چې درسته قوه راوړي
د بې غیرتو به څه ټانک وي څه توپونه

۳ـ هغه لنډۍ چې د ښځمنو له خوا د مجاهدینو د تشجیع لپاره ویلي شوي دي . لکه :

زه به دې عبرک لاسونه ښکل کړم
که تا د روس په وینو سره راوړه مینه
دا تور وېښته به ورته سپین کړم
چې د وطن لپاره ځان قربانـــوینه

۴ـ هغه لنډۍ چې د هجرت په بیابانونو کې د وطن د یاد او وطن ته د بیا ورتګ د آرزو څرګندونه پکې شوې وي . لکه :

سیل د کوډر په موږ میرات شو
د روس له لاسه له یمې اوبه راوړونه
خدایه! هغه ساعت به کوم وي
چې په نورخم کې کډې وړاندې وروسته ځینه

۵ـ هغه لنډۍ چې د ښمن ته ښېراوې یې اصلي موضوع ده . لکه :

توره بـبرکه خدای دې ورک که
ستا له شامته ځوانان ورک شو له وطنه
په حکومت دې ډزې وشه
تر دروازې راغلی یار مې له ما ځینه

۶ـ هغه لنډۍ چې د دین، وطن او خلکو د ښمنان پکې تحقیر شوي او مسخره شوي دي . لکه :

«روزي» بالښت پر خوله ورایښی
نابغه لاندې د هورا نارې وهینه
د ولایت په دروازه کې
خلقي نارې کړې مجاهد ویشتلی یمه

۷ـ هغه لنډۍ چې روسي نظام او خصلت پکې غندل شوی دې . لکه :

سور لښکر هغه سره بلا ده
چې یا به خوري او یا به وژني یا به مرینه

روسان چې مات شي له ځوانانو
د ټوپک زړه په کونډو رنډو تشوينه

۸ـ هغه لنډۍ چې د جهاد اسلامي او واقعي ضرورت پکې بيان او يا هم د جهاد د ځېنو نورو اړتياوُ لکه وحدت ذکر پکې شوی دی . لکه :

توره له تېکي نه بهر کړه
په دين غزا ده لوی واړه سنګر ته ځينه
د جهاد لاره قرآني ده
لويه ځواني ده چې د چا په برخه شينه

۹ـ هغه لنډۍ چې د شهادت او شهيد په باره کې مطالب بيانوي . لکه :

د شهيد روح په نور کې لامبي
ساده ژوندي يې په ګور شمې بلوينه
شهيد د هر وطن شهيد دی
د جنت شمې به زموږ شهيدان وينه

۱۰ـ هغه لنډۍ چې د جنګونو او مجاهدينو د مختلفو حالاتو انځورونه کوي :

په نيمه شپه موټر غړيږي
پکې سورېږي مجاهد سرتور سرونه
خاونده بيا دې مازيګر کړه
مجاهد ډکې ګردنۍ مورچل ته ځينه

بیا به د چا په کور ژړا شي
خدایه تېرېږي په هوا روسي جازونه

د جهاد په کلونو کې د ویل شویو لنډیو دا موضوعي تقسیم که څه هم ډېر نیمګړی دی خو بیا موهم د جهادي لنډیو له موضوعاتو څه ناڅه خبروي او پر دې حقیقت مو یو ځل بیا باوري کوي چې په جهادي ادب کې لنډیو زمونږ د مسلمان ولس ډېر اساسي مسایل ، مصایب او موضوعات منعکس کړي دي . جهادي لنډۍ لکه د لنډیو کلاسیکه نمونه له رنځونو را ایسته ډېرو دلیلو او پر زړونو کېښتې ده . جهادي لنډۍ د افغانانو د روحیاتو هغه عکسونه څرګندي کړي دي چې په نورو وسایلو یې د څرګندې کولو امکانات ډېر محدود دي . جهادي لنډۍ د اېشیا په سپېرو بیابانو کې د افغاني مهاجرې د امیدونو او یأسونو منعکس کوونکې ، د افغانستان د جهاد په حیرت انګېزه سنګرونو کې د مجاهد د سینې ځلي زړه د آرزو خپروونکې او د روسي ظلم په ظلمت کې د ډېرو حقایقو روښانه کوونکې ده .

د جهادي لنډۍ د اصلي اهمیت څرګندول اوس ځکه ناممکن دي چې یو خوا د دې ادب د پخوانو لرغه لا روانه ده او بله دا چې د کتابونو ، مجلو ، اخبارونو او کسټونو په وسیله څرګندي شوې لنډۍ خو په اوږو کې د مالکې حیثیت لري . مونږ چې تر اوسه څه خبرې کړې دي دا

تولې د دې خورو شويو لنډيو پر اساس وې او په همدې وجه د جهادي لنډيو د اصلي اهميت څرګندونه د دې مقالې د وس خبره نه ده .

زه د جهادي لنډيو د اهميت په باره کې خپله خبره د دې لنډۍ په راوړلو ختموم :

چې د آمو ويښ دې خوښ نه شو
د وينو سېل مو سره ښنه جلا کوينه

برنځه لنډۍ د ناور د سرکښ غره په غېږه کې د مجاهدينو له خوا د ټيپو په وسيله دومره غټه ليکل شوې ده چې له ورايه لوستل کېږي او شايد زمونږ په اوسني ادب کې لنډۍ هغه يواځېنۍ صنف وي چې مقبوليت يې حتیٰ د وطن د ډېرو دنګو غرونو سرونو ته رسېدلی دی .

د حیدرعلي ژباړنه

د رښتينو د ژوند يوه کيسه (*)

وروسته له دې چې حضرت علي (رض) له فاطمې بي بي سره واده وکړ او دواړو کډه ژوند پیل کړ نو په خپل منځ کې د کور د کار د وېشلو په هکله د رسول الله مبارک د توصیې په لټه کې شول. دوی د هغوی مبارک لیدلو ته ورغلل او له هغوی (ص) یې وغوښتل چې د کور د ورځنیو کارونو د وېشلو په باره کې لارښوونه ورته وکړي.

رسول الله مبارک (ص) ورته وویل چې له کوره بهر کارونه دې علي (رض) کوي او د کور دننه کارونه دې د فاطمې (رض)

(*) بربنۍ ژباړه د „Stories of truthful people" مضمون ترجمه ده چې د „Mahjubah" مجلې د ۱۹۸۶ م کال د اګست او اکتوبر په ګڼه کې خپور شوی.

په غاړه وي . دوی دواړه د هغوی مبارک په دې لوړېینه خوشاله شول خو د فاطمې بي بي خوشالي ځکه سېوا شوه چې پلار هغه له خپلو بهرنيو کارونو معاف کړه . فاطمې بي بي وویل : « زه ډېره خوشاله یم چې پلار د بهر له کارونو، چېرته چې به له سړیو سره زما سروکار پېښېده خلاصه کړم . »

له دې وروسته به داسې کارونه لکه د اوبو راوړل، د بوټو موټو راوړل او له بازاره څه راټیول حضرت علي (رض) سرته رسول او ځینې نور کارونه به لکه پخلی، جارو، و لل او مېچن کرځول د فاطمې بي بي په غاړه وو. خو سره له دې وېشه به حضرت علي (ک) هر وخت چې بي کولی شوی له فاطمې بي بي سره د هغې په کارونو کې لاس کاوه .

یوه ورځ رسول الله مبارک (ص) د دوی کور ته په داسې حال کې ورغی چې دوی دواړه د کاله په کار بوخت وو. رسول الله مبارک (ص) وفرمایل چې هر یو ډېر ستړي یاست هغه دې کښېني کار دې پرېږدی . حضرت علي (ک) سملاسي ځواب ورکړ چې فاطمه زهرا ډېره ستړې ده . حضرت پیغبر (ص) خپلې لور ته د دمه کولو وفرمایل او پخپله مبارک د هغې د کار سرته رسولو ته ورولاړ شو. همدا رنګه چې کله به حضرت علي (ک) په کور نه وو

مسافر به وو او یا به هم په غزا وتلی وو نو فاطمې- بي بي به د ډکر کار ونه هم کول .

د هغوی که ژوند همدا ډول تر هغو پورې دوام وکړ څو چې دواړه د اولاد خاوندان شول . د اولاد په وجه چې ډېره پالنه او پاملرنه غوښتله د کور دننه کارلا زیات او لا سخت شو .

یوه ورځ د حضرت علي (ک) چورت خپلې ګرانې مېرمنې ته ډېر خراب شو چې جامې یې په کور کې د کار کولو په وجه خیرنې او سپیرې شوې او لاسونه یې له ډېرې مېچن کولو تناکې شوي وو . حضرت علی (رض) هغې ته وویل چې له پلاره دې که کېږي یو څوک وغواړه چې په کار کې درسره لاس وکړي . فاطمې بي بي ومنله او د پلار کره رهي شوه . کله چې هلته ورسېده نو پلار یې له څېنو خلکو سره د خبرو په حال کې ولیده . دې د خپلې خبرې لپاره دا وخت مناسب ونه ګاڼه او بېرته کور ته راستنه شوه .

رسول الله مبارک (ص) چې دا لیدلې وه او پوه شوی وو چې څه ویل یې غوښتل نو په سبا سحر باندې د هغې کور ته ورغی . په دې وخت کې حضرت علی (رض) او فاطمې- ځانونه په نیمګي کې پټ کړي وو ځکه یخني ډېره وه او دوی د ځان تودولو لپاره بل څه نه لرل . کله چې رسول الله- مبارک (ص) د دوی کوټې ته راورسېده نو په لوړ اواز یې

«السلام عليکم» وويل خو دوی دواړو له ډېره شرمه د سلام ځواب ور نه کړ ځکه د خپل درانه مېلمه د کښېناستلو لپاره يې څه نه لرل. دويم ځل بيا رسول الله مبارک (ص) په لوړ اواز پر دوی سلام واچاوه او دوی بيا خاموشه پاتې شول. دريم ځل هم رسول الله مبارک (ص) سلام واچاوه؛ دا د هغوی مبارک اصول وه چې که به د چا کره تئ نو پر کوربه به يې سلام اچاوه، که به کوربه د سلام ځواب ورکړ نو دی مبارک به ترې دا انګېرله چې کور ته يې د ننوتو اجازه راکړه، خو که به د دريم ځل لپاره هم د دوی (ص) سلام ته ځواب ور نه کړی شو نو دی مبارک به له هغه کوره ستنېده.

حضرت علي (ک) پوهېده چې که دريم ځل هم د هغه مبارک سلام ته ځواب ور نه کړي نو رسول د خدای ستنېږي. په همدې وجه هغه فيصله وکړه چې ځواب ووايي او په لوړ اواز يې وويل: «وعليکم السلام د خدای رسوله، مهرباني وکړئ، دننه راشئ» رسول د خدای کوټې ته ورننوت او د دوی څنګ ته کښېناست. هغوی مبارک له فاطمې بي بي پوښتنه وکړه چې تېره ورځ دې له ما سره څه کار وو چې کور ته پسې راغلې وې؟ حضرت علي (رض) وغوښتل چې د فاطمې بي بي د ورتګ وجه څرګنده کړي او ويې ويل چې هغه ما درلېږلې وه ځکه له کله چې د دې کار ډېر زيات

شوی او لاسونه يې ښځې سولېدلي دي نو د پېره خوا مې ورته بدېږي . هغه رسول الله مبارک ته وويل چې ما له د يې غوښتي وو چې له تاسې د کور د کار لپاره څوک وغواړې.

رسول د خدای پوه شو چې ګرانه لور يې څومره له ستونځو ډک ژوند لري خو هغه نه غوښتل چې د ی (ص) يا د دوی مبارک د کورنۍ نور غړي دې د امت تر خوارانو بهتر ژوند ولري . په مدينه کې هغه وخت ژوند ډېر ربړوونکی وو او اکثره خلکو په فقر کې ژوند کاوه.

له بلې خوا رسول الله مبارک (ص) د خپلې لور له روحي قوت سره بلد وو او ورته پته وه چې هغه څومره ډېره په دوعا او عبادت مينه ده . همدارنګه هغه مبارک پوهېده چې د دوعا او عبادت له برکته به خدای پاک هغې ته ستر ځواک ورو بخښي . د دې ټولو خبرو په نظر کې نيولو سره هغه وفرمايل : « ايا غواړې چې تر ټولو بهتره لاره درو ښيم ؟ » دوی « هو » وويل او وې غوښتل چې هغه مبارک خپلو خبرو ته ادامه ورکړي . رسول د خدای ورته وفرمايل : « هر وخت چې ويده کېږې نو ۳۳ ځله « سبحان الله » ، ۳۳ ځله « الحمد لله » او ۳۴ ځله « الله اکبر » واياسته . د دې کلماتو ذکر به ستاسو روحيه نسبت دې ته چې څوک د کور په کار کې لاس درکړي ډېره پياوړې کړي . »

تر دې دمخه به فاطمه زهرا خپل سر تر نيمڅي لاندې پټاوه خو کله چې يې له ګرانه پلاره هغه کلمې واورېدلې نو سر به يې په نيمڅي کې نه پټاوه او په خوشالۍ سره به يې دا لاندې جملې درې ځلې تکرارولې :

» څه چې د خدای او د هغه د رسول (ص) رضا ده زما هم پرې رضا ده . . «

(پای)

ابراماں

که په میوند کې شهید نه شوې ...

د افغانستان تاریخ د سرګردانیو تاریخ دی او د قربانیو، شهامتونو تاریخ دی او د شهادتونو، د جنګونو تاریخ دی او د ننګونو؛ د تاریخ په اوږدو کې ډیر یرغلګر او بلوسګر پرې بلوسیدلي او ډیر زورور او ښکرور ځواکونه ورته راغلي خو غرور یې مات شوی، زور یې اوبه شوی او ماته یې په برخه شوې ده ځکه چې افغانان د تسلیم تګې نه پیژني او زورته د ایل کېدلو عادت نه لري:

زموږ چې تاریخ راواړول شي او زموږ د تاریخ زرینې پاڼې چې ولوستلې شي د ننګ او میړانې او د ویاړ او افتخار رڼه بابونه یې په ځلیدو شی او د هر د ښمن او تیري کوونکي د ماتې کیسې یې په کیدو. زموږ دا وږده تاریخ ستت داسې راغلی چې په هر وسلو او پنځوسو کلونو کې له یوې یا بلې خوا تیری پرې شوی او خونړۍ جنګ پرې تحمیل شوی دی، ورامتې او تلفات ډیر شوې خو نتیجه یې د دښمن ماته او د میړنو افغانانو سوبه او سرلوړي ده.

ډیر لرې نه ځو پر افغانستان باندې د روسانو تر مستقیم تیري پوره سل کاله وړاندې په ۱۸۷۹ ع کال انګریزانو پر افغانستان باندې دوهم تیری

وکړ ځکه چې دوی پر افغانستان باندې د لومړي تیري ماته چې تر دې تیري څه-
د باندې ځلویښت کاله وړاندې ؤ یو تصادف ګڼله او دوی فکر کړی ؤ چې د دې
ماتې لوی علت د ژمي سړه هوا او د انګریزي لښکرو نیمګړی سنبالښت ؤ . د دوی
دې تیري ته پوره څلویښت کاله ترتیبات نیولي وو او په ډیر شدت ، حدت،
جدت او وحشت یې لښکرې پر افغانستان باندې مارش کړې او یو ځل بیا یې
د کابل پایتخت لاندې کړ خو تاریخ تکرار شو لکه نیمه پیړۍ وړاندې چې پاڅون
شوی ؤ بیا هم پاڅون وشو ، بیا هم سنګرونه تاوده شول او بیا هم د انګریزي
ښکیلاک په وړاندې د جهاد بهیر تنظیم ، غښتلی او پیاوړی شو او بیا هم د-
افغانانو او انګریزانو تر منځ تود او وسله وال جنګ ونښت .

په ۱۸۸۰ع کال کې بیا هم تاریخي ماته د انګریزانو په برخه شوه
او د یوه پاڅون په ترځ کې د باداری له پاره راغلي انګریزان رانسکوراو
مات شول ، د خپلې نظامي ماتې د تلافی له پاره یې سیاسي هلې ځلې پیل کړې
او له عبدالرحمن خان سره یې په پټه کې تړون وکړ او د افغانستان «امارت»
ته یې ورساوه . د عبدالرحمن له راتلو سره د انګریزانو ماتې خوړلی لښکر
د کابل تخلیه پیل کړه خو په همدې وخت کې د کندهار په میوند کې د مجاهدینو
او انګریزانو تر منځ توده او خونړۍ جګړه روانه وه ، په یوه معرکه کې
مجاهدین ویرلړ او د ښمنان ویر زیات او په درنه وسله سنبال وو، مجاهدین
د جنګ په ډګر کې ستړي او وارخطا شول او نژدې وه چې ماته وکړي او دښمن
بری ترلاسه کړي لکه څرنګه چې دود دی افغانۍ ښځمنې د جګړو او جهاد د
قوت الظهر په توګه «ګړله» او «ګولۍ» پسې ورورسوي ، د دې ډګر یوه مجاهده
ملاله وه ، دې چې دا حالت ولید و ویریده چې مبادا افغانان ماته ونه کړي

نو په دې حساس وخت کې يې د پښتو يوه لنډۍ په خوږه ژبه ورته کړه :

که په ميوند کې شهيد نه شوې
ګرانه لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

دې لنډۍ دځوانانو د احساس د سرېدونکي اور له پاره د تيلوکار ورکړ، احساسات تاوده شول افغانۍ وينه په رګونو کې په غورځنګ شره او افغاني ځوانان لکه دغوسمېدلو زمريانو غوندې په د ښمن راتوېې شول ، د ښمن ماته وخوړه او د ميوند ډګر په حماسو شيبو کې فتح شو.

دا کيسه مې د دې له پاره وکړه چې له دې پېښې نه سل کاله وروسته همدې مؤمن او ميړني ملت د روسي ښکېلاک په مقابل کې هم خپل لرغوني - تاريخ راژوندی کړ، د هيواد په ګوټ - ګوټ کې ميړني ځوانان او زړورې ملالۍ راولاړې شوې او د هيواد په سيمه کې د جهاد ميدانونه ميوندونه شول او د سره ښکېلاک له پاره يې هم ځمکه سره او هره ساحه تودوه کړه .

کله چې تر دې پېښې پوره سل کاله وروسته د ۱۹۸۰ع کال په پسرلي کې په کابل کې د پوهنتون او ښوونځيو نجونې او ځوانان د روسي وسله وال تيري په مقابل کې راولاړ شول ، مارشونه او مظاهرې يې وکړې نو - دې وحشي ښکېلاک د تش لاسو ځوانانو او نجونو په مقابل کې له ټانکونو، توپونو، کلاشينکوفونو او برچونه کار واخيست او د ښار په منځ ، د ښوونځيو په انګړ او لارو او واټونو کې يې د امؤمن ، زړور رخو تش لاسي ځوانان او - نجونې شهيدان کړل .

زه هغه وخت لا په کابل کې وم د يو عيني شاهد وينا ده چې د ځوانانو

او نجونو بهير د سالنګ واټ په لاره له شاه دو شمشيره سره نژدې جوړې شير ته راورسيد چې د زرنګار پارک په لوري روان ؤ دلته يې مخې ته ټانکونه راورسيدل د ګوليو اورول يې پرې پيل کړل ، د اطفائيې موټرو د اوبو- شيندل پرې شروع کړل ، په دې وخت کې څو ځوانان د ګوليو موخه شول او نورو د غره په لور منډه کړه ؛ شاهد وايي په دې وخت کې چې ځوانانو تېښتې ته ځان جوړ کړ يوه زړوره نجلۍ د همدې ګوليو په باران او د اوبو په- سيلان کې ودريده په لوړ غږ يې په ځوانانو غږ وکړ : تاسو چېرته ځئ ؟ له مرګ نه ځان خلاصوئ ! آيا بې له آزادۍ ژوند په کار دی ؟» دا غږ د ځوانانو له پاره اسرافيلي شپېلۍ شوه بېرته د ګوليو مخې ته راغبرګ شول او په مېړانه يې د شهادت جامونه وڅښل ...

عيني شاهد چې کيسه دې ځای ته راورسوله زما بې له اختياره له خولې نه ووتل : « دا وه د خپل عصر ملاله !» او داسې ملالې زموږ د هېواد په ګوټ ـ ګوټ کې پيدا شوې او روسي وحشي لښکرو ته يې فولادي ضربې ورکړې دي.

هو ! د هېواد په نورو سنګرونو او ډګرونو سربېره د ميوند ډګر هم په وينو سور دی او د روسي ښکيلاک له تيري سره سم د ملالۍ او د دې ډګر د مېړنيو- غازيانو معنوي زامن راپاڅېدلي او وخت په وخت يې په دې تاريخي ډګر د خپل يرغلګر دښمن وينې بهولې او د اميرني او خونړۍ مبارزه لاروانه ده او د ښښ پر بري تر رخته به روانه وي ، ځکه ټول افغانان او د ميوند بچيان ګروهه لري چې :

که په ميوند کې شهيد نه شوې
ګرانه لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

عصمت قانع

کندهار د اوریه لمبو کې

پوره اته کاله تیر شول چې لوی او له عظمتونو څخه ډک کندهار د سترو اسلامي عظمتونو، سترو ارزښتونو او سترو تاریخي ویاړونو د دفاع سنګر دی.

تر اتو کلو په زیاته موده کې د دغه ستر او شهادت روزونکي ښار په لس هاو زره ځلمیان د حق په مورچل کې د قربانۍ او شهادت ډګر ته وړاندې شول او د الهي عشق په سوز کې د ابدي نیکمرغۍ لپاره وسوزېدل.

په لس هاو زره کونډې او یتیمان د ویر او ناورین پر تغر کښېناستل.

په لس هاو زره بوړاګان د غمونو او ویرونو په څپو کې د ژوندله جادې څخه د ابدیت صحنې ته رخصت شول.

د ډیرو عفیفو پیغلو لاسونه د وروڼو د نکریزو پر ځای د وینو په رنګ سره شول.

هو - لوی کندهار په خپله لویه سینه کې د ډېرو غمونو او دوکونو وساتل او ساتي یې.

خوښکه څنګه چې لوی و لا پسې لوی شو - لا پسې ستر شو - ابدي شو او د شهید د وینې له هر څاڅکي سره یې د تاریخي ژوند د ویاړونو بهیر هم پسې اوږد شو.

د دغه ښار په کوڅو او بانډو کې که له یرې خوا د کندهار پانږدوینو لښتي و بهیدل.

نوله بلې خوا یکې د باداری او اربابۍ په نیت راغلي پردي ښین سترګي بریځي هم بې ارمانه او بې ایمانه تر د نیا تیر شول.

کندهار - د مغلو- چنګیزیانو - ګورګینیانو او انګریزانو له شرمونکي تیښتي څخه وروسته دادی ددې پیړۍ په پای کې د روسانو د رسوا تیښتي شاهد دی.

کندهار اوس کټ مټ هغه تصویر وړاندې کوي، کوم چې د چنګیز د- لښکرو د یرغل په وخت کې د لوی افغانستان یعنې زړې اریانا او پخوانۍ خراسان د لویو ښارونو وو.

موږ سږکال پداسې حال کې د تیر کال د شهیدانو ابدي خاطره نمانځو چې د کندهار د ښار یوازینۍ روغه جاده «د هرات دروازه» هم د سولې او کرارۍ د مدعیانو په لاس کنډواله شوه

د تیرې جوزا له پنځمې نیټې څخه بیا تر دې حاضر وخت پورې دکندهار ښار څه د پاسه نیم کال څخه له یوه مخه پداسې شدت سره بمبارد شوی دی چې تقریباً د زړو کورونو د حویلیو اثار او نخښې هم بیخي له منځه تللي دي.

پدې وروستیو وختو کې د ویرانۍ او تخریب په غرض روسانو او د هغوی بې واکه نوکرانو د بیا جوړیدو په نوم د ښار په هغو سیمو کې چې لا اباد کورونه پکې لیدل کیدل، سړکونه تیرکړل او د دغو سیمو ټول کورونه یې د بیلډوزرو په وسیله له خاورو سره برابر کړل!

او د ویرانۍ، تخریب، بربادۍ او له منځه وړلو دغه جاني او بشر دښمنه عمل

لا هماغسې په پوره زور او خواک سره د سرو او بې رحمه کفارو له خوا دوام لري.

په تأسف سره باید ووایو سره له دې چې کندهار په ټول هیواد کې د جهاد داغ او ټود مرکز دی - ولې بیا هم د مجاهدو قوتونو او ګروپونو د تقویت لپاره هیڅ کوم داسې مشخص او موثر پروګرام نه دی عملي شوی او نه خو جهادي ګوندونو په دې هکله خپل مسولیت له څنګه چې ښایي هماغسې سرته رسولي وي.

موږ احساسوو چې د کندهار د شهادت رو زونکي ښار په پراخه پیمانه تخریب او د دغه ښار په شاوخوا کې له استوګنو سیمو څخه په زور او جبر سره د خلکو ایستل د مجاهدینو لپاره څومره ستونځ او نه زغمونکي مشکلات رامنځ ته کوي.

د تیرو اتو کالونو په اوږدو کې په کندهار کې د مجاهدینو د ملاتړ اساسي او بنسټیز قوت په خپله خلک ؤ.

له خوږو دږو اخله تر جامو.

له دوا و نیسه بیا د ټپیانو تر ملهم او ټکوره پورې.

داضرورتونه او اړتیاوې ټولې د خلکو په مستقیمه همکارۍ پوره کیدلې.

خو سږ کال شکست خوړلي او ملحد دښمن دخپلو جنایاتو بهیرت د خلکو پر لوري سمت او جهت ورکړ.

د روان کال په اوږدو کې د یوې دقیقې احصائې او شمېرنې له مخه څه د پاسه دریې زره د استوګنې کورونه له خاورو سره برابر شوي دي.

دکندهار د محله جات، ارغنداب - دامان ، شاه ولي کوټ، سپیروان، بالاکرز

کرز ، سفید روان ، پنجوایی او خاکریز د زراعتي سیمو او منطقو په زرگونو۔ باغونه په دومره شدت سره بمبارد شوي دي چې اکثرو باغونوکې خود کرونې او زراعت هیڅ نښه هم نه پیداکیږي.

د کندهار په کومو سیموکې چې د غنمو کښت کیده په دغو سیموکې هم مکار او غدار د ښمن دغنمو په سلګونو خرمنونه د اتشي کارتوسو په واسطه وسوځول.

لنډه داچې سږ کال کندهار د تیرو کلونو په پرتله له ډیرو ستونزو او مشکلاتو سره لاس او ګریوان دی.

خو دمجاهدینو لوړ هوډ او سپیڅلی ایمان او نه ماتیدونکې اراده لا ـ هماغسې پرځپل حال پاتې ده.

کندهاره غوږول چې دې ګلونه

اوس دې اوري پر لمنو سره اورونه

لکه ډک دې ستاانار له سرو دانو نه

سره تېتر کې دې شته هومره سره داغونه

«قانع»

شعر او هنر د انقلاب په تګ لوري کې

ونه سوې، لمبه نه شوې، لوګی نه شوې، دا څه چل وو؟

تا چې وې „نشاره"! سرې لښکرې مې رایادې شوې

قانع

غزل

د سپیره خزان سلطه ده د راغونو په وطن کې
بهار ونه مرور دي د ګلونو په وطن کې

د تنکي ګلاب ښایسته نور دې نه ستایم غزل کې
اوس د سرو زخمونو وار دی د شعرونو په وطن کې

د پېغلو مخ صفت پرېږدئ د سرو رغزل خوانانو
له ویرونو سره مل شئ د غمونو په وطن کې.

څه د تور ماښام نوبت دی څه د تورماتم دوران دی
د رڼا قحطي راغلې د لمرونو په وطن کې

د خندا مسکا مې نشته څه خندا له ما نه غواړې
د مرګونو راج او باج دی د ژواکونو په وطن کې

وچ شونډان دي چې رېږي د سراب دجام په غاړو
ساقي مه راځه ماتم دی دجامونو په وطن کې

هر يو اه مې لمبه خيزشو له سلګو بخري اوري
د سکروټو باران شوی د آهونو په وطن کې

انا لحق يې هر آواز دی هر فرياد يې منصوري دی
«قانع» دا چيغې زده کړي د دارونو په وطن کې

چې په سرو وينو، د زلمو تر شو
سر نه تر پايه، وطن سره زر شو

چې په هر ګام يې، يو شهيد پروت دے
که مقدس وو، مقدس تر شو

«پ»

خدای دوست

خوب

بېګا مې خوب لیده،د ختیځ لوري ته رڼا وي
چاودلې وي سپېدې،د سبا وږمې پسته هوا وي

نرۍ وږمې چلېږي ، خوشبويي راوړي وطن ته
پر شونډو د غوټیو هم نرۍ نرۍ موسکا وي

د ونو تنکۍ پاڼې له ښادۍ وهي چک چکې
یو شغول وي د بلبلو ، بوراګانې په نڅا وي

پونکې شګوفې کېږي او غنچې ګلونه کېږي
هر لور ته ښېرازي وي ، هرې خوا ته سمسورتیا وي

چې وینم په هر شي کې تازګي وي طراوت وي
چې ګورم هر طرف ته یو ښایست وي یوه ښکلا وي

د لمر و پلوشو وته یې، ستوګې وي نیولې
شبنم هم هېره کړې، په دې بزم کې ژړا وي

ورکېږي خواشیني، د پرېشانۍ پردې څیرېږي
د لمر وړانګې خپرېږي، د تیاره وکړه په شا وي

غمونه ټولوي په ډېر تلوار خپلې کمبلې
خوښي وي، خوشالي وي، هوسونه وي، خندا وي

هر لوري ته چې غوږ شې وي ناره د اتڼونو
هې هې وي د ځوانانو، د ښادۍ د ډول د رزا وي

ږغونه د هوراوو وار په وار لا غلي کېږي
د « الله اکبر » په ازانګو ډکه فضا وي

صفونه د غازیانو لور له لوري نژدې کېږي
پوځونه د ملحدو، شو په شو وي، شا په شا وي

لري په هر میدان وي د الله د منکرانو
بري وي د هغو چې یې غرض د خدای رضا وي

خرڅې وي د بتانو چې ماتېږي په تبرونو
په پښو د ابراهیم کې پروت نمرود غونډې باچا وي

چې ویښ شوم له خوبه نه خپل کمیس رابانده تنګ وو
پر خوله مې دا وینا وه : «ګونډې خدایٔ وي دارښتیا وي»

نژدې به کړي خدایٔ ښېرونه د غښتلیو افغانانو
«خدای دوسته !» باور وکړه ستا د خوب به دا معنا وي

الهی از وطن آوارگانیم
غریب و بیکس و بی خانمانیم
بزیر اسمانت نیست جائی
که تا یکدم درو آسوده مانیم

نامه‌های وارده

د جهاد پلوشې گرانو چلوونکو!

خدای مو ښه او خوشحاله لره. د جهاد پلوشې په رښتیا سره د جهاد په فرهنگي سنگر کې د امید او مبارزې یوه وړانگه ده چې د تیارو د خاوندانو په ناولې او ناروا دنیا بیغل کوي.

موږ ډیر زیات فرهنگي کار او زیار ته اړه لرو. ږ موږ د دین او وطن دښمن د سلگونو او زرگونو اخبارونو، مجلو، راډیو، ستیشنونه او... او... په وسیله کوښښ کوي چې خپل ناروا تیري روا وښیي. او خپل نا وړه هدفونه وړ وبولي.

نو د جهاد پلوشه او داسې نورې خپرونې د غلیم د تبلیغاتو او فرهنگي فعالیتونو په وړاندې ډیرې اهمې تاریخي دندې په غاړه لري.

د جهاد پلوشه په حقیقت کې د جنوب لویدیځو ولایتونو د یوا ځینی - خپرونې په حیث زموږ لپاره چې د دې ولایتونو او سیدونکو یوو، لا ډیر اهمیت لري او د افغانستان له اسلامي جمعیته ډیر ډیر مشکور یوو چې موږ ته یې په فرهنگي لحاظ هم ښه توجه وکړه. په احترام

د سرخاب له کیمپ څخه محمد طاهر معلم او محمد ظاهر پوپلزی.

بنام خداوند گار هستی!

کارکنان مجلۀ وزین „ د جهاد پلوشه » السلام وعلیکم و رحمة الله وبرکاته ونصرته

تامیده .

برادران مبارز! چندی قبل شماره دوم مجلهٔ «د جهاد پلوشه» به دسترس قرار گرفت ضمن مرور اولی مجله بنده را به این مجبور ساخت تا مجله را از آغاز مطالعه کنم تا رسیدم به عنوان « داوبنکو او وینو انځورګر » واقعاً خواندنی ، دلچسپ و خیلی هم دوست داشتنی بود ، زیرا از یکسو هنرمندی استاد سخن را به شیوه بسیار زیبا و ادبی بیان میکرد و از سوی دیگر خدمات جهادي استاد به نوع خیلی احسن نگاشته شده بود.

عبدالحق برادرشما از کوټه .

گرداننده محترم «جهاد پلوشه»

باعرض سلام های گرم و صمیمانه از خداوند توانا و مهربان موفقیت وکامیابی های بس بزرگ تان را هرچه بیشتر ، در نشر فرهنگ جهادی به خصوص جهاد - مقدس اسلامي افغانستان ، استدعا می نمایم.

حدیثی که من رابه تحریر نامه وادار ساخت همانا مژدهٔ مجلهٔ وزین - «جهاد پلوشه» توأم با زحمات و برد باری برادران در تهیه با ترتیب و تشکل این مجله میباشد.

مطالب عظیم و پر محتوایی درلاپلای اوراق مجله مثلاً : د ثور د فاجعي ننهه کلیزه ... د قضیي یو بل اړخ ... استاد خلیلی به لقاءالله پیوست .. څو کې بریالي مشول،وغیره موضوعات و مباحث عملی ، صحبت و برهان صادق پشتکار و تلاش های برادران در جهت روشن نمودن اذهان مجاهدین توسط فرهنگ غنی واصیل اسلامي است.

باید این نکته را نیز تذکر داد که در خلال مطالب دلچسپ وخواندنی یک کمی را که محسوس نمودم آن اینست که ترجمه ها به ندرت دیده میشود اگر این کمی مجله را هم پُر نمودید به یقین گیرائی وعظمت مجله را دو بالاخواهد ساخت.

به احترام برادر مجاهد شما از ولایت غور- نورالله- مجاهد یار.

PROPERTY OF ACKU 8729

چې په لمبو بې، بر دوله ځاله
پښتانه تېر وو، له خپله باله

که لېونيان يو، که هوښياران يو
جنګ به سوړ نه کړو، تر استقلاله

"پ"

DE
Jehad Palwashah Monthl

Editor : Esmat Qani

Published By :

Southwest Provinces of Afghanistan

G.P.O. Box 345 Peshawar, Pakistan

د وروستي پښتي شرح

د کندهار د محله جات زړه ور قوماندان
سید یعقوب آغا چې په دې ورستیو
وختونو کښې یې له دښمن سره په
جګړه کښې خپله سترګه له لاسه
ورکړه

DE
JEHAD PALWASHAH

MONTHLY



G.P.O. BOX 345
PESHAWAR - PAKISTAN

Vol. 1
No. 6 - 7